أدع إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي أحسن (الآية)

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن والسنة د افكارو خپرونكې

۱۸ ۱۹

په کونړ کی د شرعی نظام انفاذ د شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) هغه کارنامه ده چه په اسلامی تاریخ کی به لوړ مقام ولري.



الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحيم

«ا من الرسول بما انزل اليه من ربه والمؤ منون○ كل
ا من بالله و ملئكته وكتبه ورسله○ لانفرق بين احد من
رسله○وقالوا سمعناواطعنا غفرانك ربنا واليك
المصير○» (بقره-۲۸۵)

ترجمه: پيغمبر صلي الله عليه وسلم پر هغه هدايت ايمان راوړي دي چي
دهغه درب له خوا پر هغه نازل شويدي- او څوك چي ددي پيغمبر منونكي دي،
هغوي هم دا هدايت دزړه په مينه منلي دي دوی ټولو الله،دهغه پرښتي،دهغه
كتابونه او دهغه پيغمبران منلي دي او دهغو وينا داده چي:«مونږ دالله په
پيغمبرانو كي يو له بله توپير نه كوو، مونږ حكم واوريده او اطاعت مو ومانه-
څښتنه! مونږ ستا څخه دگناه ښښني غوښتونكي يو او همدا ستا لوري ته زمونږ
درتگ دي»

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين

سورة يوسف (١٠٨)

دعوت

دتوحيد او جهاد مجله

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشيخ سميع الله

دریم کال- پرلپسی(۱۸-۱۹)گڼه د/۱۲/۱۴۱۲هـ ق کال شعبان المعظم او رمضان المبارك مياشتې= د۱۹۹۲کال فبروري او مارچ مياشتې

ددې گڼې مطالب

(عنوان) (مخ)

* سرمقاله ۲
* شيخ سميع الله مرکه ۵
* د روژې مبارکې مياشت فضيلت ۹
* دافغانستان راتلونکې حکومت ۱۲
* د کنړو نوداسلامي امارت له سرپرست سره مرکه ۱۸
* اخلاص ۲۱
* اسلامي عقايد ۲۴
* د منځنۍ آسيا اسلامي هيوادونه ۲۸
* حديث ابدال ۳۲
* ددعوت او ارشاد له رئيس سره مرکه ۳۳
* دښمن وپيژنئ ۳۵
* مونږ د اسلامي امارت معتهدين ۴۳
* لنډ داستان ۴۵
* دکونړ دقومندانانو تصويب ۴۷
* دجلوزو دکيمپ دتنظيم طلبه سلفيه غونډه ۴۹
* دليکونو بهير ۵۰

دهيئت تحرير تر نظارت لاندې

په پاکستان اونورو بهرنيو هيوادونو کې زمونږ نمايندګان

په داخل کې : لعل محمد «افسوس»

اسلام آباد : عفيف احمد

پيښور : غنى الله «مسلم»

لاهور : حماد شاكر

کراچي : چوهدري ظهور احمد

کوئټه : عرفان منګل

مظفر آباد : بشير قريشي

سعودي عرب : فيضان الله

امريکا : عبدالرحمن احمد

بريطانيا : منور علي

جرمني : وانی - ايم حميم

هالينډ : عماد الدين بکری اسماعيل

داشتراك وجه :

په پاکستان کې	په نورو بهرنيو هيوادونوکې
مياشتې ګډون:	مياشتې ګډون
۱۰کلداری	۲ امريکائي دالر
کلنی ګډون: ۱۰۰کلداری	کلنی ګډون : ۱۰ دالر

مکاتباتي پته : «دعوت مجله» - پوسټ بکس نمبر ٦١٤ پښاور پاکستان

بانکی حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اکاونټ نمبر ١٩٤٦٥ - حبيب بينك كينټ - صدر رود - پښاور.

سرمقاله

د روژې د مبارکې میاشتې فضیلت

بسم الله الرحمن الرحیم

یاایهالذین امنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم لعلکم تتقون

ترجمه:ای مؤمنانو! په تاسو باندې روژه فرض شویده، لکه څنگه چه ستاسو څخه په وړاندې خلکو باندې فرض شوې وه؛ تر څو چه په تاسو کې د پرهیزگارۍ احساس پیدا شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم دشعبان دمیاشتې په وروستیو ورځوکې پخپله یوه مبارکه خطبه کې دروژې دمیاشتې دفضیلت په باب وفرمایل: ای خلکو! یوې لویې او برکت لرونکې میاشتې په تاسو باندې خپل سیورې خپور کړې دی، پدغه میاشت کې داسې یوه شپه هم شته،چه له زرو شپو څخه غوره ده.الله تعالی ددغې میاشتې روژه فرض کړېده او دشپې دتراویح دلمانځه قیام یې نفل ټاکلی دی. هغه کسان چه پدې مبارکه میاشت کې دخپل نیك عادت له مخې الله تعالی ته دنژدې والی کوښښ وکړي نو الله تعالی ورته دنفل په مقابل کې دفرضو متناسب ثواب په برخه کوي او چا چه پدغه میاشت کې فرض اداء کړل، نو الله تعالی ورته دنورو میاشتو د(۷۰) فرضو ثواب مقرروي. روژه دصبر میاشت ده او دصبر بدله جنت دی، روژه دهمدردۍ او خواخوږۍ میاشت ده او داهغه میاشت ده چه دمؤمن روزي پکې پراخیږي او که څوك بل کوم مسلمان ته روژه ماتي ورکړي، نو په مقابل کې یې گناهونه معاف کیږي او له اوره نجات پیداکوي او دهماغه روژه نیونکي ثواب ورته په داسې ډول په برخه کیږي چه پخپله دهغه له ثواب نه هم څه نه کمیږي. صحابه کرامو عرض وکړ! ای دالله رسوله(صلی الله علیه وسلم)! مونږ خو دومره شیان نه شو پیدا کولی، چه روژه نیونکي ته یې دروژه ماتي په وخت کې راوړو. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوك چه دیو گوټ شربت یا یوې کجورې یا یو گوټ اوبو پواسطه دبل مؤمن لپاره روژه ماتی برابر کړي، نو الله تعالی ورته دومره ثواب په برخه کوي، لکه روژه نیوونکي ته یې چه په مړه گیډه ډوډۍ ورکړې وي. الله تعالی به ورته دحوض کوثر نه اوبه ورکړي چه بیا به هیڅکله تږی نشي، تر دې چه بیا به جنت ته لاړشي. ددې میاشتې لمړۍ ورځې رحمت، منځنۍ ورځې یې مغفرت او بخشش او

پای له دوزخ څخه دنجات ورځی دي.

څوك چه په دغه میاشت کی له خپل خادم او نوکر څخه لږکار واخلی، الله تعالی به ورته بخښنه وکړي او له دوزخ څخه به یی په امن کی وساتي. (بیهقی).

په بل حدیث مبارك کی راځي:من قام لیلة القدر ایماناً واحتساباً غفرله ما تقدم من ذنبه ومن صام رمضان ایماناً واحتساباً غفرله ماتقدم من ذنبه(بخاری-مسلم)

ترجمه: څوك چه دقدر په شپه په ایمان او اخلاص سره قیام وکړی، نو پخواني ټول گناهونه یی معاف کیږي او څوك چه درمضان المبارك دمیاشتی روژه ونیسي، ټول گناهونه به یی معاف شي.

بیا یی وفرمایل: لو یعلم العباد مافی رمضان لتمنت امتی ان تکون السنة کلها رمضان. (بیهقی-ترغیب)

یعنی که دالله تعالی بندگان دروژی دمیاشتی په حقیقي فضیلت خبر شي، نو زما امت به دټول کال دروژی نیولوخواهش وکړي.

په بل حدیث شریف کی فرمایي: الصیام جنة وحصن حصین من النار. (احمد)

یعنی روژه ددوزخ په مقابل کی دیو ډال او مستحکمی کلا حیثیت لري.

الصیام والقرآن لیشفعان للعبد یوم القیامة یقول الصیام ای رب منعته الطعام والشهوة فشفعنی فیه و یقول القرآن منعته النوم باالليل فشفعنی قال فیشفعان.(احمد-ترغیب)

ترجمه:روژه او قرآن به دواړه دانسان لپاره دقیامت په ورځ سفارش وکړي. روژه به ووایي: ای پروردگاره! دغه روژه لرونکی ماد خوراك څښاك او خواهش څخه منع کړی ؤ، نو زما سفارش دده په باب ومنه.او قرآن مجید به ووایي: ای پروردگاره! ما دغه سړی دشپی له خوبه منعه کړی ؤ، دشپی به یی دقرآن تلاوت کاوه نوته هغه ته بخښنه وکړه.نو ددواړو سفارش به منظور شي. په یو قدسی حدیث شریف کی الله تعالی فرمایی: کل عمل ابن آدم له الا الصوم فانه لی وانا اجزی به (بخاری).

یعنی انسان ته به دهر عمل په مقابل کی یو ټاکلی ثواب په برخه شي، خو روژه یوازی زما لپاره ده اوبس زه به یی معاوضه ورکوم.

الیلة القدر:

چه لغوی معنی یی دقدر شپه ده او په اصطلاح کی درمضان المبارك دمیاشتی د وروستۍ لسیزی په پنځوطاق شپو کی دیوی شپی نوم دی. چه پدغه شپه کی عبادت دزرومیاشتو له عبادت څخه غوره دی، قرآن عظیم الشان ددغی شپی دعظمت په هکله فرمایی:

انا انزلنه فی لیلة القدر۰ وما ادرك مالیلة القدر۰ لیلة القدرخیر من الف شهر۰ تنزل الملئکة والروح فیها باذن ربهم من کل امر۰ سلم هی حتی مطلع الفجر۰.

ترجمه: بی له شکه مونږ دغه قرآن دقدر په شپه کی نازل کړ او ته څه پوهیږی (ای پیغمبره!) چه دقدر شپه څه شی دی؟ دقدر شپه له زرو میاشتو څخه غوره ده. پدغه شپه (دهر کار دسرته رسولو لپاره) پرښتی او روح دالله تعالی له حکم سره سم راښکته کیږی. دا د امن اوسلامتئ شپه ده. دسبا راختلو پوری.

ددی سورة شان نزول داسی دی، چه یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم دبنی اسرائیلو دڅلورو پرهیزگارانو یادونه وکړه چه اتیا کاله یی دالله تعالی عبادت کړی ؤ، دیوی ذری په اندازه یی دالله تعالی له حکم څخه نافرمانی نه وه کړی. هغوی عبارت وو له حضرت ایوب علیه السلام، حضرت ذکریا علیه السلام، حضرت حزقیل علیه السلام او حضرت یوشع علیه السلام.

صحابه کرام ددغی یادونی وروسته په سخت تعجب او حیرانتیا کی پریوتل، لږه شیبه وروسته حضرت جبرئیل علیه السلام راغی او ویی فرمایل:ای محمده (صلی الله علیه وسلم)! ستا ملگرو ددغو څلورو پرهیزگارانو دعبادت په باب حیرانتیا ښکاره کړه، نو الله تعالی له هغه څخه غوره او افضل نازل کړ او ویی فرمایل: چه دا دهغه عبادت په نسبت ډیر غوره دی،د کوم عبادت په باب چه تا او ستا صحابه ؤ حیرانتیا ښکاره کړیده.نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام ډیر زیات خوښ شول. (ابن ابی حاتم او ابن کثیر)

روژه په انسان کی دالله پرستئ روح ژوندی کوي. دا چه دروژی په مبارکه میاشت کی دظاهری زور او فشار نه غیر یو مسلمان یوازی دالله تعالی دحکم په تعمیل له خوراك، څښاك او دنفسانی خواهش له سرته رسولو څخه انکار کوي او په داسی حال کی چه هر څه یی په تصرف کی وی، بیا هم ولږه او تنده په ځان تیروي. په حقیقت کی دحاضر او ناظر ذات په حیث دالله تعالی د پیژندگلوئ ښکاره ثبوت وړاندی کوي. روژه مونږ ته له الله تعالی څخه دویری درس راکوی تر څو هغه احکام عملی کړو چه دکائناتو خالق زمونږ دفلاح او نیکرغئ لپاره را استولی دي، په هغه لار روان شو، چه زمونږ پروردگار زمونږ دنجات لپاره غوره کړی ده او د هغو قوانینو ا و اصولو مراعات وکړو چه الله تعالی زمونږ لپاره وضع کړی دي، په دی ډول داحقیقت راڅرگندیږی چه په کال کی یوه میاشت روژه زمونږ دتکلیف او آذیت لپاره نه، بلکه دالله تعالی په وضع کړی شویو قوانینو باندی د مسلمانانو دکامل تعمیل لپاره مقرر شوی او زمونږ دتربیت لپاره داسی یوه میاشت ده چه په دنیا او آخرت کی زمونږ دنیکمرغئ ضمانت کوي.

اداره

شیخ سمیع الله دالمجاهد دمجلې سره په مرکه کې وویل:

زمونږ مذهب د صحابه کرامو او د څلورو امامانو مذهب دی

د جماعت الدعوة الی القرآن والسنة دمؤسس امام الجهادمولوی جمیل الرحمن (رحمه الله)له شهادت نه وروسته فضیلت شیخ مولوی سمیع الله صاحب دجماعت د امیر په توګه وټاکل شو.

دالمجاهد مجلې په دی وروستیو وختو کی له محترم مولوی صاحب سمیع الله سره ددعوت او جهاد او دکونړ دواقعاتو په باب یوه مرکه کړی، چه مونږ نی دخپلو ګرانو لوستونکودمعلوماتو لپاره پیښتو متن وړاندی کوو.

المجاهد: محترم مولوی صاحب هغه کوم مهم کارونه دي، چی جماعة الدعوة تر اوسه پوری کړی دي؟

شیخ سمیع ا لله: زمونږ جماعت یو جهادي جماعة دی او له دی کبله پر نورو تنظیمونو باندی امتیاز لری چی دعوت او تعلیم ته یی زیات ارزښت ورکړی دی. له علم څخه مراد دکتاب الله او سنت علم دی، چه د صالحینو سلفو په کړنلاره عیار کړای شوی دی.دتوحید دعوت،د عقائدو تصحیح او اصلاح، د عباداتو او فی سبیل الله جهاد کول ددی جماعت له مهمو چارو څخه دي. مونږ زیاتره د هغو چارو یادونه نه کوو چه مونږ کړی دي، لکه دروغتونونو جوړول اوداسی نور، مګر هغه څه چی مونږ کړی او نورو نه دي کړی، هغه د دینی مدرسو جوړول دی او دا په زښت زیات شمیر کی مونږ جوړی کړی دي، چی شمیر یی نږدی څلوروسوو مدرسو ته رسیدلی دی.

المجاهد: تاسو په خپلو مدارسو کی دکوم مذهب تدریسی نصاب قایم کړی دی؟

شیخ سمیع الله: سبحان الله! آیا دمسلمان له پاره روادي چی د صحابه کرامو له مذهب څخه پرته بل مذهب او له هغی لاری څخه پرته چی دفقهی څلور امامان پری روان وو بل مذهب ځان ته جوړ او غوره کړی،دالله تعالی دربوبیت توحید،د الوهیت توحید،د الله تعالی د اسماء او صفاتو پیژندنه لکه څرنګه چه دسلفی عقیدی په کتابونو کی مذکور دي،زمونږ ددینی مدرسو تعلیمی نصاب تشکیلوی.

المجاهد: تاسی پرکوم فقهی مذهب زیات اعتماد کوئ؟

شیخ سمیع الله: پر هغه فقهی مذهب اعتماد کوو چی مایی دمخه یادونه وکړه او هغه داچی «اذاصح الحدیث فهومذهبی». یعنی صحیح حدیث زما مذهب دی. خو له دی سره سره مونږ دعوامو له پاره له علماؤ څخه تقلید حرام نه ګڼو خو له پیغمبراسلام

نه غیر د بل کوم ټاکلی شخص تقلید هم واجب نه ګڼو.

المجاهد: آیا هغه تحقیقات،څیړنی او پلټنی تر اوسه پوری کومی نتیجی ته رسیدلی دي چی د شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)د قتل په هکله اودهغه جهت دمعلومولوله پاره پیل کړای شوی دي، چی ددغه قتل پلان یی جوړ کړی او اقدام یی کړی دی؟

شیخ سمیع الله: په دی باره کی تحقیقات په جدی توګه روان دي.

المجاهد: تاسی پر چا باندی ګومان کوی، چی ددغه جنایت تر شا ولاړ دي؟

شیخ سمیع الله: له تحقیقاتو او شواهدو څخه چی دهغو له جملی څخه د قاتل هغه لیك هم دی چی په خپل لاس یی لیکلی دی، مونږ ته داسی معلومیږی چی دشیخ د قتل تر شا دوه عوامل دي، چی یو یی نیغ په نیغه او مستقیم عامل دی او بل ئی غیر مستقیم دی:

غیر مستقیم لاس دګردو هغو کسانو دی چی په ناحقه سره یی دسلفی دعوت په خلاف خبری کړی دی او یرغل یی پری کړی دی او په دغه دعوت اوهم په شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) پوری یی درواغ او بهتانونه تړلي دي او دا هغه کار دی چی د ناپوهه او خبیث قاتل شخص زړه یی دوکه کړ.

اومستقیم سبب دځینی جهاتو هغه پروسه ده چی دقاتل ماغزه یی په خپل اوچت مکر،تدبیر،خبث او پوره چالاکۍ سره ومینځل او هغه یی دشیخ ترور ته چمتو کړ،تردی چه دکونړ له حادثی سره سم دوی خپل دغه د ترور او جنایت هود مستقیماً او نیغ په نیغه بشپړکړ.

المجاهد: داسی چه ده، نو آیا تاسو په دی باندی باور لرۍ چه د کونړ حادثه او د شیخ قتل دواړه په خپل منځ کی سره تړون لری؟

شیخ سمیع الله: پدی کی خو هیڅ شك نشته او ثابته خبره ده.آیا داسی یو مسلمان به هم وی چه دهغه په سر کی یو پوټی عقل وی او بیا هغه دا ارتباط درك نه کړی شی؟

پراسلامی امارت باندی دسرحدی قبائلو او لیری اطرافو دخلکو او لار وهونکو په ګډون دټولو تنظیمونو یرغل کول او بیا دګردو تنظیمونو پر دی کار باندی سره یو کیدل او په عین همدغه موده کی دالشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)قتل کول، داهرڅه یو عقلمند انګیرلی شی او پر دی باندی پوهیږی چه دموحدینو په خلاف داهغه لویه دسیسه وه چه په توره شپه کی جوړه کړی شوی وه او له ګردو څخه زیاته نادره خبره خو داده چه دافغانستان مجاهدین دجهاد له پیل څخه تر اوسه پوری بلکه دتاریخ په اوږدو کی په هیڅ یو کار هم سره متفق شوی نه دی ان تر دی چه دکمونستانو په مقابل کی پر جنګیدو باندی هم سره یو نظرنه دی پرته له دغه اتفاق څخه چه د کونړ داسلامی امارت په خلاف یی وکړ (انا لله وانا الیه راجعون).

المجاهد: ددغی دسیسی اصلی هدف څه دی؟

شیخ سمیع الله: امکان لری چه ددغی خونړۍ دسیسی ترشا زښت ډیر مقاصد او اهداف وی. چه دهغوی له جملی څخه یو هم داوی چه هغه سلفی دعوت ته ټکان ورکړی چه داسی بریالیتوب او برم یی ګټلی دی چه په افغانستان کی بل هیڅ یو تنظیم ترلاسه کړی نه دی، نه په انفرادی توګه او نه داتحادونو په بڼه کی داځکه چه په څمکه کی دامنیت دټینګښت اوبیا دالله تعالی دحکم قایمول دجماعة الدعوة هغه دوه کارونه وو چه هم ئی په افغانستان کی او هم ئی له افغانستان څخه بهر دګردو خلکو سترګی دغه عظیم دعوت ته واړولی او دامن دتر لاسه کولو په خاطر دافغانستان له نورو ولایاتو څخه کونړ ته هجرت کول پیل شول. هغوی په داده زړه ژوند وکړ او دا ورته ثابته شوه

چه دغه دعوت دخلکو دعقایدو او عباداتو دتصحیح لپاره دی.نو کله چه نورو احزابو دا ولیدل،سخته پری تمامه شوه او پر خپلو ځانونو وویریدل، نو هغه څه یی وکړل چه ستاسو له مخی وو.دغه راز دلته یوه بله پټه مو خه هم ده ... او هغه دافغانستان دمسئلی په هکله دځینی غټوغټو دولتونو او په منطقه کی دسیاسی حل دکنفرانسونو نه وړاندی دافغانستان دمسئلی په هکله خپل منځی مسابقه او په افغانستان کی د دوی مرکزونو د موجودیت رغبت دی.تر څوله دغی لاری نور هیوادونه تهدید کړی او څنگه چی دکونړ اسلامی امارت له الله تعالی څخه پرته بل هیچاته سر نه ښکته کوی، نو ددغو دولتونو او دهغوی دلاسپوڅو افغانی تنظیمونو لپاره ددغه اسلامی إمارت موجودیت دروند تمام شو...چه پدی توگه دکنړ بی گناه سپین ږیری،ښځی او ماشومان ئی د خپلو شومو اهدافو او مصلحتونو قربانی کړل.

المجاهد:آیا تاسی پردی باندی دمخه نه پوهیدئ؟

شیخ سمیع الله:ولی نه! مونږ لاپخوا پری پوهیدو.

المجاهد :داسی چی ده نو بیا ولی د کنړ اسلامی امارت سقوط وکړ،پداسی حال کی چی تاسی ښه مستحکم او پیاوړی عسکری دفاعی ځواك هم درلود ؟

شیخ سمیع الله:مونږ دکتاب الله او سنت رسول الله احکام له هر چانه وړاندی په خپل ځان تعمیلوو.د کنړ د اسلامی امارت ته صدمه رسیدل زمونږ دشکست او بزدلئ په وجه نه، بلکه زمونږ درحم او عاطفی زیړنده وه، مونږ د مظلومانو په حیث دظلم په مقابل کی دفاع کوله او په دغه دفاع کی مو له هرڅه نه وړاندی د شریعت د اصولو د تطبیق او دقرآن او سنت له لاری دمسایلو دحل وفصل هلی ځلی کولی، خو مخالفینو زمونږ په خلاف دبی امانه جگړی اعلان کړی ؤ چه د قرآن اوسنت څخه کاملاً مغایر او مخالف ؤ.

شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)د مسلمانانو د وینو په تویولو زیات خواشینی کیده او هغه به مجاهدینو ته تل دا وصیت کاوه چی «کن عبد الله المقتول ولاتکن عبد الله القاتل» یعنی ته د الله تعالی وژلی شوی بنده شه او دالله تعالی وژونکی بنده مه کیږه.او همیشه به یی هغوی صبر او زغم ته هخول، او دتیری په مقابل کی به یی له تیری کولو څخه منعه کول.

او پردی خبره باندی ستر دلیل دادی، چی څوځلی داسلامی امارت پر اتباعو باندی تیری شوی دی،د پلټنی په دوران کی څوځلی ددوی کسان قتل کړای شوی دي،مگر دمسلمان د وینی دحفاظت په خاطر هرځل شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) به دامارت اتباع له کسات اخیستلو څخه منعه کول او د شیخ دغو لارښودنو دکنړ په جنگونوکی زیاته اغیزه لرله او هغه داسی چه دغو نصائحو په ډیرو مواضعو کی دامارت اتباع دمسلمانانو له قتل څخه ژغورلي دي.

المجاهد:جناب شیخ! آیاتاسی هغه څوك نه یاست، چی تیری مو پیل کړ او خلك مود هغوی له مرکزونو څخه خارج کړل او هغه مو ورڅخه ونیول؟!

شیخ سمیع الله:خبره داسی ده چی په امارت کی داهل الحل والعقد د شورئ له جوړیدو او د شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) له امیرټاکلو څخه وروسته په کنړ کی په بشپړه توگه امن قائم شو، نو اسلامی امارت هوډ ونیو چه د لارو-وهونکو، د افیونو اوچرسو د سوداگرانو او کروندگرو په خلاف لازم اقدامات وکړی.دغو جنایت کارانو په کنړ کی نورو موجودو تنظیمونو ته پناه یوړه،څو د اسلامی امارت له محاسبی څخه محفوظ شی.هغوی هم پناه ورته ورکړه.نو اسلامی

امارت ته ددغو جنایتکارانو نیول گران شول، ځکه چه ښایی دغه تنظیمونه له هغوی څخه دفاع وکړی، بیا نو په دی صورت کی فساد او فتنه نوره هم زیاتیږی او بیاکله چی حزب داسلامی امارت د امنیت دری تنه ساتندویان قتل کړل، نو مسئله نوره هم سخته شوه، ځکه چی اسلامی امارت له حزب څخه دقاتلانو د ورکولو غوښتنه وکړه،څو هغوی محاکمه کړی،حزب دهغوی له ورکولو څخه انکار وکړ او شیخ پردی باندی ټینگارکاوه چی قاتلین ورڅخه ترلاسه کړی نورو مسلمانانو ددوئ ترمنځ دسولی ډیری هلی ځلی وکړی،مگر هغوی حزب ته قناعت ورنکړای شو چی قاتلان اسلامی امارت ته تسلیم کړی.

هماغه وو چه شیخ په کنړ کی ټولو موجودو احزابو ته اعلان وکړ چی هغوی به په دوه خبرو کی یوه هرومرو قبلوی او هغه داچی یاخو به د هغه اسلامی امارت چه دټولو جهادي تنظیمونو دمجاهدینو په گډو هلو ځلو منځ ته راغلی،اطاعت کوئ اودهغه متابعت به کوئ او یابه دکنړ له سیمی څخه په بشپړه توگه وځئ،څو دجنایت کارانو او مفسدینو له پاره دپناه اخیستلو چاره ورکه شی.

له دغه اعلان څخه وروسته ځینی احزابو داسلامی امارت اطاعت قبول کړ او ځینی له کنړ څخه ووتل، پرته له دی چی څه زیان ورسوی، پدی توگه لانجه پای ته ورسیده.لار وهونکی محاکمه کړای شول،د چرسو اوافیونو کښتونه و سوځول شول او دټولو مخدره موادو دخرڅلاو دوکانونه بند کړای شول،د لمانځه په محال کی دوکانونه تړل کیدل او دکونړ ولایت په امن، آزادئ، عدل او انصاف کی یو مثال وگرځید،خلکو په دعوت الی الله، امر بالمعروف او نهی عن المنکر پیل وکړ، او ولایت دنیکمرغه ژوند تیرولو ټاټوبی وگرځولی شو چی له همدی کبله له نورو ولایاتو څخه ورته خلکو هجرت هم پیل کړ.

مگر دغه حالت پر هغو کسانو درونډ تمام شو، چی خپل تنظیمونه ئی له دین څخه غوره گڼل او پرشرعی قوانینو باندی یی حزبی قوانینوته ترجیح ورکوله او پر شرعی أدله ؤ او مأخذونو یی مقدم گڼل.

المجاهد:دجماعة الدعوة دراتلونکی حالت پـه هکله تاسی څه فکرکوئ؟

شیخ سمیع الله: په دی کی خو هیڅ شك نشته چی دالشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په قتل کیدلو سره مونږ خپل یو مهربان مشر، عزتمن ورورااو یو ناصح لاربنود له لاسه ورکړ، مگر زمونږ په وړاندی حق په رجالو(شخصیتونو)باندی مقدم دی او زمونږ په وړاندی شرعی ادله پر قیادت باندی مقدم دی، زمونږ په نزد دصالحینو سلفو له فهم او برداشت سره سم له کتاب الله او سنت څخه پرته بل هیڅ یو قانون نشته او نه بل دستورموجود دی او زمونږ له پاره یوازی کتاب الله او سنت د قانون په توگه کفایت کوی.

په همدی اساس مونږ له اسلام څخه پرته بل هیڅ حزب ته اړتیا نه لرو او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پرته بل هیڅ رهبر ته ضرورت نه لرو.

المجاهد: په افغانستان کی دجهاد د راتلونکی په هکله څه فکرکوئ؟

شیخ سمیع الله: زما په فکر خو دا لازمه ده چی جهاد دقرآن او سنت په رڼا کی وکړای شی، نه پر سیاسی گونگوسو، واهیاتو او پیش گویانو او اټکلونو.دقرآن اوسنت فیصله داده چه که مونږ دالله تعالی دکتاب هغه وعده چه له مونږ سره نی کړی، صادقه وگڼو اود الله تعالی احکام په ځان عملی کړو، نوله مونږسره به مرسته وکړی او که مونږ مخالفت ورڅخه وکړ،نو مونږ به رسوا او زیانمن کړی.

وصلی الله علی سید نا محمد وآله وصحبه اجمعین.

د روژې مبارکې میاشتې اوځینې ضروري احکام یې

روژې ته په عربي کې«صیام» یا «صوم» وائي،چه په لغت کې دمطلق ځان ساتنې په معنی ده- که له هرڅه څخه وي- خو د شرعي په اصطلاح کې له ټولو شرطونو سره سره یوه پوره ورځ له صبح صادق څخه ترلمر پریوتو(ماښام) پورې له خوراك،څښاك او جنسي عمل څخه ځان ساتنې ته روژه ویل کیږي.

روژې دحکم په اعتباردرې ډوله دي لکه:فرضي روژې، سنت او مستحب روژې.

فرضي روژې: دوه ډوله دي، یو هغه چه د اداء لپاره ټاکلی وخت لري، لکه د رمضان دمیاشتې او دټاکلې ورځې دنذر روژه، بل هغه روژه ده، چه د اداء لپاره ټاکلی وخت نلري، لکه د رمضان د میاشتي دروژې قضاء او د غیر ټاکلې ورځې د نذر روژه.

سنت اومستحب روژې:
سنت او مستحب روژې هغه دي، چه دنفلو په توګه نیول کیږي، لکه دتاسوعا او عاشورا(دمحرم الحرام دمیاشتې د نهمې اولسمې ورځې)روژه نیول سنت دي، همدارنګه دحرام د میاشتو (محرم، رجب، ذوالقعدې او ذي الحجې)له هرې میاشتې څخه د پنجشنبې، جمعې اوشنبې د ورځو روژې مستحب دي، همدارنګه په هره اونۍ کې دپنجشنبې او دوشنبې دورځو روژې مستحب دي، ځکه چه نبي علیه السلام فرمایلي:تعرض الاعمال یوم الاثنین والخمیس فاحب ان یعرض عملي واناصائم) (ترمذي-دابوهریره رضي الله عنه په روایت)

ترجمه: د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو اعمال(دالله تعالی حضورته) وړاندې کیږي، نو زه خوښوم، چه زما عمل پداسې حال کې وړاندې شي، چې زه روژه یم.

همدارنګه په هره قمري میاشت کې د ایام البیض(دیارلسم،څوارلسم او پنځلسم دورځو)روژې سنت دي. لکه چه حضرت عباس رضي الله عنه فرمایي:کان رسول الله صلی الله علیه وسلم لایفطر ایام البیض في حضر ولاسفر»(نسائي دابن عباس رضي الله عنهما په روایت).

ترجمه:رسول الله صلی الله علیه وسلم دایام البیض روژې نه په سفر کې پرېښودې او نه ئې دسفر په حال کې. همدارنګه دکوچني اختر په میاشت کې

پرته د اختر له لومړۍ ورځې څخه چه روژه به ماتوی،د نورو شپږو ورځو دروژې نیول هم مستحب دی،ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:«من صام رمضان ثم اتبعه ستاً من شوال کان کصیام الدهر»

(رواه مسلم بر وایت ابی ایوب انصاری رضی الله عنه)

ترجمه:څوك چه د رمضان دمیاشتی روژې ونیسی او بیا ورپسی د شوال دمیاشتی شپږ ورځې روژې هم ونیسی، نو(ثواب نی)داسی دی، لکه چه ټول عمر روژه وی.

همدارنګه پرته له حج کوونکو څخه دنورو مسلمانانو لپاره دعرفی دورځې روژه نیول مستحب ده،ځکه چه ابی قتاده رضی الله عنه فرمایلی دی:« سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم عن صوم یوم عرفة؟ قال:یکفر السنة الماضیة والباقیة»

(رواه مسلم بروایت ابو قتاده رضی الله عنه)

ترجمه:له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دعرفی دورځي دروژې په هکله پوښتنه وشوه، ونی فرمایل:دکال دتیرو او پاتی(وختونو ګناهونه)جبیره کوی.

دکوچنی او لوی اختر په لومړیو ورځو روژه نیول او د تشریق دورځې روژه نیول او یوازی دعاشورا دورځی روژه نیول او یوازی دجمعی دورځې روژه نیول او دحج کوونکی لپاره دذی الحجی دمیاشتی د اتمی او نهمی ورځی او همدارنګه دعرفی دورځې روژه نیول او د شپی او ورځی پرلپسی روژه نیول او روژه دار له روژی سره سره له خبروکولو نه هم روژه نیول له سنت طریقی نه خلاف او مکروه روژی دی.

درمضان د پوره میاشتی روژه نیول په هرمؤمن مسلمان باندی چه عاقل ،بالغ، مقیم او روغ وی، فرض عین او داسلام له پنځه ګونو ارکانو څخه څلورم رکن دی. منکرنی کافر او فرضیت یی دهجرت په دوهم کال دشعبان دمیاشتی په لسمه نیټه شوی دی، له دی نیټی نه دمخه په هره میاشت کی دری ورځی روژه نیول فرض وی، چه د رمضان دمیاشتی په روژی سره هغه منسوخی شوی، لکه چه ابن جریر دمعاذ بن جبل رضی الله عنه په روایت وائی: چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی ته راغی او دعاشورا دورځی اوله هری میاشتی څخه یی دری ورځی روژی نیولی، ترڅو الله تعالی درمضان دمیاشتی روژه فرض کړه اودغه مبارکه آیت نازل شو« یاایها الذین امنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم لعلکم تتقون۝ ایاما معدودات فمن کان منکم مریضا او علی سفر فعدة من ایام اخر وعلی الذین یطیقونه فدیة طعام مسکین فمن تطوع خیرا فهوخیر له و ان تصوموا خیرلکم ان کنتم تعلمون۝ »

البقره-۱۸۳-۱۸٤)

ترجمه:ای مؤمنانو! په تاسو روژې فرض کړی شوی لکه څنګه چه له تاسونه په مخکینو خلکو فرض کړای شوی وی، ددی لپاره چه تاسی پرهیزګارشئ.(دځو) شمیرل شوووزځوروژی دی، که له تاسو څخه څوك ناروغ یا مسافر وی، نوپه نورورځو کي دي هماغو مره شمیر پوره کړئ اوپه هغو کسانو چه دروژې دنیولو طاقت لری (دهری ورځې په بدل کی) د یومسکین دخوړو فدیه(لازمه ده) پس هرڅوك چه په خپله خوښه (په فدیه کی) زیاتوالی وکړی، نو دا ور ته غوره ده او که روژه ونیسئ دا تاسوته ډیره غوره ده، که یاستئ تاسو چه پوهیږئ.

دشك دورځې د روژې حکم:

دروژې په مبارکه میاشت کی دشك ورځې دوه دی، چه یوه دروژې دپیل ورځ اوبله نی دروژې دپای یاد کوچنی اختر لومړۍ ورځ ده.ددی لپاره چه مسلمانان خپله کفائی فریضه سرته ورسوی اوددغه عبادت په سرته رسولو کی له شك سره مخامخ نه شی، د نړۍ په ټولو مسلمانانو

لازم دی،چه دروژی دمیاشتی دلیدنی اوپلټنی لپاره د شعبان دمیاشتی څارنه وکړی اودشعبان دمیاشتی په(۲۹) نیټه د لمر پریوتو په وخت کی دآسمان لویدیځو لمنو ته په ځیر شی او دنوی میاشتی د لیدلو پلټنه او کوښښ وکړی، تر څو ورته د سبا ورځی د روژی او بوزی حالت معلوم شی.

همدارنګه دشعبان دمیاشتی دلیدلو څارنه باید وشی او د ورځو شمیر نی په یاد ولرل شی تر څو د هغی له مخی د رمضان دروژی حال معلوم شی،لکه چه په یو مبارك حدیث کی راغلی دی:

«احصوا هلال شعبان لرمضان»

(جامع ترمذی دابو هریرة رضی الله عنه په روایت)

ترجمه:دشعبان د میاشتی څارنه د رمضان لپاره وکړئ.

که دشعبان دمیاشتی په(۲۹)ورځ دلمر پریو تو په وخت کی آسمان وریځ وی او دسپوږمئ دلیدلو امکان نه وی، نو دشعبان دمیاشتی(۳۰)باید پوره شی او سباته ئی روژه شی، همدارنګه که د روژی د میاشتی په(۲۹)ورځ له لمر پریوتو وروسته آسمان وریځ وی، نو بیا هم باید(۳۰)ورځی روژه ونیول شی، بیا دی اختر وکړی.

ترڅو چه دیو مسلمان له عادت سره برابره نه وی، نو دشك په ورځ باید روژه نه شی او که څوك د شك په ورځ روژه شی، نو د روژی حکم ئی دهغه د نیت او حالت په اعتبار په لاندی ډول توپیر کوی:

۱- که څوك دروژی په پیل کی دشك په ورځ د رمضان د روژی نیت وکړی، نو روژه ئی تحریمی مکروه ده، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

لایتقدمن احدکم رمضان بصوم یوم اویومین الا ان یکون رجل کان یصوم صومه فلیصم ذلك الیوم»(متفق علیه)

ترجمه:د رمضان ترمخه دی یو د ستاسو یوه یا دوه ورځی روژي نه نیسی، مګر هغه سړی چه روژه ئی ددی ورځی سره برابره وی.

دمثال په ډول یو څوك ددوشنبی یا پنجشنبی دورځی،یادهری میاشتی په اول یا آخر کی نفلی روژه نیسی او هماغه دعادت ورځ یی دشك له ورځی سره برابره شی، نو دغه نفلی روژه یی دنفلو په نیت پروا نه لری.

دشك په ورځ درمضان دروژی په نیت روژه نیول ځکه تحریمی کراهیت لری، چه که مسلمانان پری عادت شی، نو بیا به خلك ګمان کوی، چه ددغی ورځی روژه به هم فرض وی او په رمضان باندی به ورزیاته شی، برسیره پردی له اهل کتا-بو سره هم شباهت راځی، چی هغوی دخپلی روژی په موده کی له خپله ځانه زیاتی کړی ؤ. په یو بل مبارك حدیث کی راغلی دی:«من صام الیوم الذی یشك فیه فقد عصی اباالقاسم»(ریاض الصالحین) (۱-٤٤٧ مخ)

ترجمه:څوك چه دشك په ورځ روژه شی، نو درسول الله صلی الله علیه وسلم مخالفت ئی کړی دی.

۲- حدیث کی راځی چه دشك په ورځ روژه نیول ممنوع دی (که نفلی وي یا بل واجب).

۳- که په داسی تردد سره نیت وکړی، چه که سبا رمضان ؤ،نو زماروژه به درمضان وی او که رمضان نه ؤ، نو زما روژه به د کوم بل واجب یا نفلی روژی وی، نو دا هم حرام دي ځکه چه د روژی په تعین کی نی تردد موجوددی.

٤- که داسی نیت ئی وکړ، چه که سبا رمضان ؤ، نو روژه به شم او که نه، نو بوزه به شم، نو دا روژه نی هم باطله ده.

دافغانستان راتلونکی حکومت به تر هغه وخته په ولس بر لاسی نشی، تر څو د بشپړ اسلامی نظام د انفاذ ضمانت ورنه مکړی

دجماعت الدعوة الى القرآن والسنة افغانستان

دمجاهدینو په نوم پیغام

دا یو څرګند حقیقت دی چه جماعت- الدعوة الی القرآن والسنة د خپل تأسیس له وخته د جماعت د مؤسس الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)د شهادت تر وخته پوری په ډیره لنډه موده کی داسی بریالیتوبونه لاس ته راوړی او د افغانستان په داخل او خارج کی یی داسی نیك شهرت موندلی چه دالهی اعجاز نه غیر ورته بل نوم نشی ورکول کیدای، ځکه دالله تعالی وعده دا ده هغه کسان چه دالله ددین داعتلاء او پر-مختګ لپاره هلی ځلی کوی، نو الله تعالی به یی لاره ورته سمه کړی او مشکلات به یی یو په بل پسی له منځه لاړشی:«والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا».

شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) د دینی علومو د زده کړی له فراغت نه وروسته دتوحیدی عقیدی په اساس دافغانی ټولنی داصلاح مهم کار پیل کړ او ددغه هدف لپاره یی د«امت مسلمه» په نوم د یو دینی جماعت بنسټ کیښود. ددغه دینی تنظیم دفعالیت اوکوششونو په نتیجه کی دکونړدولایت مسلمانان دومره منظم شوی وواو له اسلامی نوامیسو څخه ددفاع احساس یی دومره پیاوړی شوی ؤ چه په افغانستان باندی دروسی تالی څتو په خلاف یی له هر چا نه وړاندی په جهاد او مبارزه لاس پوری کړ او ددیارلسو کالو اوږد او خونړی جهاد نه وروسته یی تر ټولو لومړی له الحادی او کفری قواؤ څخه دخپلی بشپړی آزادئ نعمت ترلاسه کړ.

څنګه چه په افغانستان کی دملحدینو په خلاف مسلحانه جهاد دلومړی ځل لپاره شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) پیل کړی ؤ، نو ډیره مناسبه به وی چه داسلام دغه ستر مبارز د افغانستان دجهاد د مؤسس په حیث یاد کړو.

شهیدجمیل الرحمن(رحمه الله) دجهاد په اوږده موده کی زیات وخت په غرونو اوشاړو بیدیاؤ کی دمجاهدینو په قومانده اودهغوی دنظم او دسپلین په ټینګښت کی تیر کړ او دجهاد په تود او خونړی ډګر کی چه یو طرفته به دروسی استعمار دبی رحمانه بمباریو په وجه په خروارونو زهر لرونکی بمونه وریدل اوځمکه به دهیبت ناکی زلزلی په شان لرزیده، خو بیا هم دهغه په ثبات او اراده کی خلل نه پیښیده، بلکه په الله تعالی باندی ئی ایمان او عقیده نوره هم غښتلی او پیاوړی کیده، مجاهدینو ته یی دثبات او پایداری درس ورکاوه، له وارخطایی او بزدلئ څخه یی منع کول، اتفاق او اتحاد ته یی رابلل او توصیه یی ورته کوله چه دجنګ لحظی

که هر څومره سختي هم شي او ددښمن حملی له بل هر وخت نه پراخی شی، دالله تعالی دلاری مجاهدین باید له هغه اسلامی خط څخه چه دکائناتو خالق وضع کړی، انحراف ونکړی.دکونړ په غرو رغو کی چه به کله هم دملحد او بی رحمه دښمن حملی لړ څه وځنډیدی نو د فراغت په لږ وخت کی هم شهیدشیخ جمیل-الرحمن (رحمه الله)د قرآن کریم ددرس په پیل کولو سره دمجاهدینو دباطنی تزکیی او په . هغوی کی دارادی داستحکام او ثبات کوشش کاوه.

مولوی صاحب (رحمه الله) د افغان مجاهدینو تر منځ دیو کامل اتحاد ستر داعی ؤ او دایی لویه آرزووه چه ټول مجاهد قوتونه دکفارو او ملحدینو په خلاف دبنیان مرصوص په شان یو موټی شی،دهغه داحسنو کوششونو په وجه څو ځلی دمجاهدینو تر منځ اتحادونه جوړ شول، خو د ځینو خود غرضو عناصرو د ناوړو هلو ځلو په وجه دغه اتحادونه ثابت پاتی نه شول اوکله چه الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)د اتحاد له جوړولو څخه مأیوس شو، نو دتوحید لوری ته ددعوت ضرورت ئی احساس کړ او ددعوت دغه سلسله ئی په یو منظم ډول دجماعت الدعوةالی القرآن والسنة افغانستان د تشکیل له لیاری پیل کړه.

زما ورونو! د جماعت الدعوة غړو، مهاجرینو او مجاهدینو!

پوهیږو چه دجماعة الدعوة هر غړی او مجاهد د الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دشهادت په غم کی ډوب او بی حاله دی، مخالفین په زړه آزاروونکو خبرو او شیطانی اشارو سره ستاسو دثبات او عزم امتحان اخلی، دښمن داسی انگیرلی چه شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)ددوی د ناوړو ارادو ښکار شوی او اوس نو دوی دتوحید دلښکر دټوټی ټوټی کیدو پکار کی کا میاب شوی دی.

گرانو ورونو! په الله تعالی قسم چه د اسلامی إمارت مخالفینو تاسو ته هیڅ ضررنندی رسولی، راتلونکی تاریخ او شرایط او حالات به داثابته کړی چه هغوی دکنړ داسلامی إمارت په خلاف د سازشونو او توطیئو په جوړولو سره په حقیقت کی خپلی پښنی وهلی،هغوی په تاسو پوری تورونه تړی او بهتانونه درباندی وائی، خو دخپل هغه جرم دپاره به څه دلیل وړاندی کړی چه دالله تعالی په آزاده ځمکه ئی دالله تعالی دحاکمیت نظام دړی وړی کړ؟

که څه هم چه هغوی دخپل دغه شرم دپټولو لپاره ډیری حیلی او بهانی جوړی کړی، خو تر اوسه ئی په اسلامی إمارت باندی دخپل تاراك او ناځوانمردانه حملی لپاره کوم جواز وړاندی نه کړ او نه ئی داسلامی شریعت په وړاندی خپله مقدمه وړاندی کړه..

دښمن د خپلو بزدلانه اقداماتو په وجه پدی خوش باوریٔ کی خندا او خوښی کوی چه دالشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) په شهادت سره ئی د توحید دقافلی گړندی قدمونه له چټك وړاندی تگ څخه غورزولی دی خو دا د هغوی خوب او خیال دی.الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) د قرآن او سنت څخه عزت او عظمت موندلی ؤ او خپل جماعة ئی دقرآن او سنت په ټینگو او غیر متزلزلو اصولو باندی ټینگ کړی ؤ.دتوحید تحریك دهغی ډیوی په شان ندی چه دزمانی دحالاتو په سیلیو او دمخالفینو په پوکو مړ او خاموش شی بلکه دا دالله تعالی نور دی چه په خپل اتمام سره دکفر او جهالت تیاری له منځه وړی، په ځمکه باندی به دالله تعالی نظام حاکم کوی؟که څه هم په کافرانو او مشرکانو باندی دتوحید دتحریك

دغه پر مختګ هر څومره سخت تمام شي.
پدې کې شك نشته چه تاسو به دخپل بریالیتوب پدې مرحله کې دخپل مجاهد مشر د شهادت په وجه په خپلو زړونو کې یو روحاني نیمګرتیا احساسوئ او د حادثې په بیابیا یادولو سره به خپل غم او تأثر زیاتوئ، خو دشمن هم ستاسو ددغه فکري او ذهني غم او انتشار څخه استفاده کوي او ستاسي په اذهانو داسې ګوزارونه کوي چه غواړي ستاسو عزم او حوصله له منځه یوسي او دحالاتو او شرایطو په مقابل کې مو بې وزلې او ناتوانه کړي .

مجاهدینو وړونو!

مسلمان هیڅکله هم ناامیده کیدلې نشي او نه دمصائبو او کړاونو په وړاندې وارخطا کیږي بلکه دتل لپاره داقرآني بشارت په نظر کې ساتي او خپل زړه وړاندې مطمئن کوي چه فرمائي:
، والله ولي المؤمنین.

دمؤمن په تقدیر کې نه ظلمت شته او نه یوازې توب.

د الله له رحمت څخه سرشارمؤحدین هیڅکله هم ناامیدئ ته پخپلو زړونو کې لارنه ورکوي او دشیطاني وسوسو په مقابل کې ورته دخپل رب دا ارشاد مخې ته ودریږي چه: لاتقنطوا من رحمة الله.
ناامیدي دهغو کسانو لپاره ده چه دالشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) وجود ئې دخپلو کفري او ناوړو اهدافو دتحقق په لار کې ستر خنډ باله.

تاریکي دهغو کسانو مقدر دی چه داسلامي شریعت له نور څخه دوري او ډار احساس کوي. دالله تعالی دقهراو غضب ځنځیر به دهغو کسّانو دغاړې هاروي چه مؤمنان توهینوي او تل مؤمنانو ته دتکلیف رسولو په فکر کې وي.تر هغه وخته چه په نړۍ کې دقرآن او سنت قوت موجود وي، مؤمنان به نه دچا فرعون دفرعونیت په مقابل کې مرعوب شي او نه به ئې دشیطان شیطانیت او دطمع او لالچ دجالان د الله تعالی له لارې منحرف کړي. هغوی چه د الله تعالی درضاء حصول ئې خپل هدف ټاکلی وي، هیڅ کله هم د غمونو او مصیبتونو څخه نه وارخطا کیږي بلکه لاتې پسې دالله تعالی په لارکې د کړاوونو دزغم ایماني قوت نور هم پیاوړی کیږي.

تاسو په خپله ددې حقیقت ګواه یاست کله چه الشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله)د جماعة تشکیل اعلان کړ نو ددې جهادي تنظیم په ټولو مهاجرینو، مجاهدینو، طالبانو، یتیمانو، شهیدانو او کونډو باندې بین المللي مرستې بندې وې او تاسو ته بیا هم معلومه وه چه شهید شیخ جمیل-الرحمن(رحمه الله) خپل ثبات له لاسه ورنکړ او دعامو مسلمانانو د اعانو او عطیاتو له لارې یې څومره لوی پروګرامونه پیل کړل، دانساني همدردۍ تر عنوان لاندې یې ټولې هغه مؤسسې چه په حقیقت کې دخپلو خپلو هیوادونو د اهدافو د پوره کولو لپاره دمهاجرینو په کمپونو او د افغانستان په داخل کې سرګرداني دي، یوه یې هم دامثال نشي وړاندې کولې چه ګوندې دوی په کونړ کې دمجاهدینو دځای په ځای کیدو او له هغوی سره دمرستې په نوم له إمارت اسلامي سره مرسته کړې ده.

د ټولو افغاني تنظیمونو مجاهدینوته له نړۍ والو ذخیرو څخه زیاته وسله ورکول کیده خو دجماعة الدعوة مجاهدینو به دقبایلي مارکیټونو څخه وسله په بیه اخستله او له دشمن سره به یې جهاد کاوه.دافغاني تنظیمونو دمشرانو ترمنځ په یوه خبره هم اتفاق ندی پیداشوی مګر دجماعة الدعوة په خلاف یې په یوه خوله په هر فورم باندې د بغض اوعناد په څرګندولو کې دمکمل اتحاد او اتفاق ثبوت ورکړی دی، تر دې چه په حقائقو باندې ځینې خیرخواهان د افغاني تنظیمونو د مشرانو د خوشحالولو په غرض له جماعت الدعوة سره دمکملې همدردئ له کولوڅخه وویریدل.مخالفینو په جماعة الدعوة پورې مربوط ددرس قرآن مرکزونه او جوماتونه شهیدان کړل، عامه ذهنیت یې زمونږ په خلاف راوپاراوه، ډول ډول تورونه او الزامونه یې

راپورې وتړل، چاراته(وهابی)خطاب وکړ، چا په (قادیانیت) متهم کړو، چارا پورې دکفر ټاپې ولګولې او هغه آزمایشونه راباندې راغلل چه دتوحید دلارې مؤمن سپاهیان ئې باید په خوښۍ سره وزغمي. خو د تکلیفونو او کړاوونو په دغه اوږد سفر کې د الله تعالی نصرت او حمایت ستاسو ملګرې دی اوتاسو په هر قدم کې دالله تعالی درضاء دلاس ته راوړلو کوشش کوئ.

نن دجماعت الدعوة له خوا په جوړو شوو مدارسو کې دیرش زره طالبان او طالبات دقرآن او سنت دزده کړې له لیارې تزکیه حاصلوی، دلګونو شهیدانو کونډې او یتیمان دجماعة الدعوة ترکفالت لاندې دی، ددغو ټولو نه علاوه جماعت الدعوة دافغانستان په زیاتو ولایاتو کې دکمونستانو په خلاف مستحکم محاذونه جوړ کړې دی، په تیره بیا په کونړ کې دکفر او الحاد په خلاف دجماعت الدعوة د مجاهدینو کارنامې به داسلامی معاصر تاریخ له ویاړ نه ډک بابونه وی. په ټولو افغانی تنظیمونو او داسلامی نړی په ټولو اسلامی تحریکونو باندې جماعت الدعوةالی القرآن والسنة ته دا إعزاز او برتری حاصله ده چه دکونړ په آزاده سیمه کې ئې داسلامی إمارت په جوړیدلو سره داسلامی نظام عملی نمونه وړاندې کړه چه دجماعت الدعوة دغه کارنامه به په اسلامی تاریخ کې په زرینو کرسو ولیکل شی.

په کونړ کې دشرعی نظام انفاذد الشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) داسې کارنامه ده چه د هغې په وجه به په اسلامی تاریخ کې دلوړمقام لرونکې وی.

دعالم اسلام په نژدې ماضی دور کې کونړ هغه یواځنې پاکه خاوره ده، چیرته چه دالله تعالی حدود نافذ شول او مسلمانانو داسلامی نظام فیوض اوبرکات په خپلو سترګو ولیدل او پدې سیمه کې یې د لومړی حل لپاره داسلامی شریعت په سیوری کې امنیت په برخه شو او دامربالمعروف او نهی عن المنکر لپاره کاملاً مساعد شرایط برابر شول.

دکونړ په آزاده سیمه کې داسلامی شریعت په نافذولو سره تاسو ډیره ستره کامیابی تر لاسه کړې ده اوستاسو دغه بریالیتوب به انشاالله په افغانستان کې داسلامی حکومت د تأسیس پیلامه ثابته شی،تاسو نړئ ته ثابته کړه چه دافغانستان مسلمان ملت په خپل هیواد کې دیو بشپړ اسلامی نظام دټینګښت نه غیر په بل هیڅ ډول نظام راضی کیدلی نه شی او وروسته له دې که هرڅوک په افغانستان کې داقتدار په کرسئ کښینی، تر هغه وخته به په خلکو حکومت ونه شی کولی، ترڅوپه هیواد کې دمکمل اسلامی نظام د انفاذ ضمانت ورکړی.

تاسو ته معلومه ده چه کفری طاقتونه په افغانستان کې د یو بشپړ اسلامی حکومت دجوړیدو په لارکې خنډونه پیدا کوی. خو زمونږ باور دی چه زمونږ دمسلمانوخلکو له زړونو څخه داسلامی حکومت مینه نشی محوه کولی او زمونږ مجاهدین وروسته به دهغه اسلامی حکومت تر سیورې لاندې چه دکتر په دنګوغرونو باندې نی پلوشی راخورې شوی، داسلام دښمنو عناصرو په خلاف په جهادی احساس سره مبارزه وکړی.

د افغانستان مجاهدین نن دخپل جهاد په یوه حساسه مرحله کې واقع دی. دا مرحله د ټولو مجاهدینو په تیره بیا د جهادی تنظیمونو لپاره د آزمایش یو سخت پړاو دی، تر اوسه لا دافغانستان دمسئلې په باب دافغانی تنظیمونو ترمنځ کوم واحدموقف ندی غوره شوی اوپدی حساسه مرحله کې د

تنظيمونو د مشرانو بې اتفاقۍ په خپله ددې حقيقت ښکارندوی ده چه دوی د خپل اقتدارد ټينګښت لپاره نه خو د اسلامي اصولو او ارزښتونو څه پروا ساتي او نه ورته د بې ګناه خلکو وينې بهيدل په سختو زړونو دترحم اثر پريباسي،هغه کسان چه اقتدار ته درسيدو لپاره داسلام عالي اصول تر پښو لاندې کوي،موږ فکر کوو چه که دغسې کسان اقتدار ته ورسيږي بيا هم داسلام لپاره څه خدمت نشي کولی.

د جماعت الدعوة مجاهدو ورونو! جيدو علماؤ او طالبانو! راشئ:

د افغانستان په اُفق باندې د تباهۍ اثرات احساس کړی،د هجرت په کمپونو، دجهاد په مورچلونو او په ټول افغانستان کې خواره شئ او خلك په قرآن او سنت باندې عمل کولو ته را وبولئ، تر څو هغوی له خپلو شخصي ګټو نه تير شي او د اسلامي اخوت د ژوندي کيدو ضرورت احساس کړي.

د افغانستان مسلمانان دکفرې طاقتونو له سازشونو څخه خبر کړئ.

داقتدار پرستانو له مکر او فريب نه مسلمانان وژغورئ.

د جهاد پدې نازکه مرحله کې تاسو د اخوت او اتحاد د سفيرانو په حيث په ټول افغانستان وګرځئ او دمجاهدينو طاقت ته دبنيان المرصوص شکل ورکړی.

ستاسو کار او وظيفه ډيره درنده ده.

دحق دلاری مجاهدين ياست، دقرآن او سنت بلونکی،دکونډواويتيمانو سرپرستان او مخلص اجتماعي کارکونکي ياست، تاسو هيڅ ډول سياسي مقصدونه نه لرئ، بلکه يواځې د الله تعالی خوښی لټوئ،نه مو له مسلمان سره جګړه شته اونه دشمنی.

ستاسو محبت هم دالله تعالی لپاره دی اونفرت او دشمني مو هم بايد د الله تعالی لپاره وي.

که نړئ ورته زموږ موقف وايي او که زموږ د کارکونکو لپاره دکار لايحه، خو تاسو د ژوند په هر ډګر کې دا الهي ارشاد په نظر کې وساتی او وربانډې پوره عمل وکړی:تعاونواعلی البر والتقوی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان.

که څوك دنيکۍ او تقوی داصولو په نظر کې نيولو سره غواړی چه دمسلمانانو خدمت وکړي، نوجماعت الدعوة په خپل ټول قوت سره دهغه ملاتړ ته ولاړدی او که څوك ددغو اصولو په خلاف دمعصيت د وسايلو په لټه پسې وي نو له موږ څخه دی دهيڅ ډول تعلق او حمايت هيله نه لري، بلکه پدې دی پوه شي چه دجماعت الدعوة هر غړی به تر هغه وخته پورې دده مخالفت وکړي چه تر څو دی په خپله دنيکۍ طرف ته مخ کړي اويا دا چه دجماعت الدعوة کارکونکي دخير په دغه کار کې خپل روح، الله تعالی ته وسپاري.

زماورونو!

زموږ سياست قرآن اوسنت.

زموږ دعوت قرآن او سنت.

زموږ لار قرآن اوسنت.

او زموږ هدف دالهي رضاحاصلول دي

تاسو بايد خپل قول او فعل زموږ ددغې تګلارې په اساس وټاکئ.

دقرآن او سنت علم په خپله حاصل کړئ اونورو ته يې زده کړئ.

دخپلو نفسونو دتزکيې لپاره کوشش جاري وساتئ.

دقيام الليل له لارې خپل ځانونه دالله تعالی دفضل او کرم مستحق کړئ.

او له اسلامي همدردۍ څخه په ډکو زړونو مسلمانانو ته داتحاد او اتفاق پيغام ورسوئ.

که تاسو پورتنی صفتونه په ځان کې پيدا کړی نو په رښتيا سره به مو دشهيد شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) داسلامي تحريك اهداف او مقاصد درك کړی وي او په رښتيا به داسلامي انقلاب دبادرکو او بااحساسو کارکوونکو په حيث ژوندوکړئ.

په پای کې زما دعا داده چه الله تعالی دی زموږ ګران هيواد افغانستان له يو رښتيني اسلامي حکومت څخه برخوردارہ کړي او دمجاهدينو صفونه دی متحد کړي او دجماعت الدعوة کارکوونکو ته دی توفيق ور په برخه کړي چه هغوی نوی اسلامي افغانستان دتوحيد دسپيڅلئ عقيدې په بنسټ ټينګ کړي او دتوحيد دانقلاب په زرينو وړانګو دنړۍ هر ګوټ روښانه کړي.

(آمين ثم آمين).

دغیرت شهیده

عبدالروف «رافت»

کفن په سرو وینو دی سوردی ای د پت شهیده
دکامیابــی پیغام دی راوړدغیرت شهیده

ستا جنازی ته مـلائك دآسـمانو راغـلی
په تا ژړیـزی ورونـه سـتا دمـحبت شهیده

تا په میــدان کی په مــیړانه توره اوښودله
تا په دښمن باندی راوستی دی قیامت شهیدد

ته په سـرو ویـنو لمبیدلی لکه گل دچمـــن
تا په همزولو کی راوســتی دی جرئت شهیده

په تیښته تللی دی دښمن دجنگ میدان نه ذلیل
دنـیا قائله ده هم سـتا په شـجاعت شهیده

په کور او کلی او وطن کي ستا یادونه شته دی
دانـــــقلاب د بچوداسی وی صفـت شهیده

تا د دوزخ کندی ته ولیـږل دروس غـــلامان
ستا داسری وینی هر کافـر ته دی افت شهیده

تا په دنیا کی زنــدگی دننگیالی تـیره کړه
حوری غلمان دي په نصیب شه دجنت شــهیده

ددښمن زور دی را نسکور کړ دایمان په طاقت
ویــنی ویـنا کړیده ستا د حقیـقـت شهیده

ستا په ژونـد ون کی نښانی دحقیقت پرتی وی
ملـگری ډیـر دی تا روزلی ددعـوت شـــهیده

تا داســـلافو صـالحینو کار نامی کـړیـدی
تاریخ ژوندی کړلو هم تا دسـلفیت شـــهیده

په ظــلم زوراونارواخـــه ددښـــمن له لاسه
شوی د اســلام لپاره ویـنو کی لت پت شهیده

دبی ننگی جامی په تـن به لـراوبر گــرځوو
که انتقام مونږه وانه خیست په سرعـت شهیده

مونږه به ټول په تاپسي هم ستا په شان درومو
وائي «رافت» چه شهادت خو وي نعمت شهیده

د کنړونو داسلامي إمارت سرپرست مشرحاجي روزي خان وويل:

دکونړ خلك داسلامی إمارت په سيوري کي مطمئن او نيکمرغه ژوند لري

ددعوت مجلی نماینده دافغانستان دکنړونو داسلامي إمارت د سرپرست امیر او دکورنیو چارو رئیس محترم حاجي روزي خان سره دروان میلادي کال دفبروري دمیاشتی په (۲۸)نیټه مرکه کړی، دادی ددغی مرکی پوره متن:

پوښتنه: د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د شهادت له امله په اسلامي إمارت کومی بدی آغیزی شوی دي؟

ځواب: دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) د شهادت له امله دافغانستان دکنړونو په اسلامي امارت باندی په معنوي لحاظ سره ډیره بده آغیزه شویده، ځکه هغه داسی په یو اسلامي بصیرت اوذکاوت سمبال شخصیت ؤ، چه په خپلو نیکو اخلاقو او اسلامي فکر سره یی دسیمی دعامو خلکو او اوسیدونکو محبت خپل کړی ؤ، دهغه خلاء په هیڅ شان سره ممکنه نه ده، چه ډکه شی.مگر بیا هم دهغه دصبر اوتحمل څخه ډکو اوعبرت آمیزه کارنامو او نصیحتونو علت دی، چه نن دکنړ ټول مجاهدین داسلامي إمارت تر شا ولاړدي اوددی اسلامي امارت پلوي کوي او د هغه شهید مشر حقیقی مشن په پوره ایمانداری اوصداقت سره چلوي. ترڅو په افغانستان او نوره نړۍ کي دداسلام سپیڅلی وړانگی خپری شي او د ټولو فاسدو اوباطلو نظامونو ځای برحق اسلامی نظام ونیسي.

پوښتنه:آیا کومی سیمی چه مخکی داسلامي إمارت تر تسلط لاندی وی، اوس هم وریاندی بشپړتسلط لري که نه؟

ځواب:داد الله تعالی احسان دی چه اسلامي امارت کله اعلانیده، نو د دومره سیمو اختیار ورسره نه ؤ، لکه نن چه داسلامي إمارت په اختیار اوقبضه کی دي. اوددی سیمو دترقۍ او بهبود لپاره یی کوم کارونه روان کړي دي. نو دپخوا په نسبت اسلامي إمارت په زیاتو سیمو تسلط او کنترول لري.د اسلامي إمارت یوازی داهدف نه دی،چه یوازی سیمی ترخپل تسلط لاندی راولي اوبس، بلکه اسلامي إمارت دسیمی دټولو

مسلمانو خلکو د فلاح او بهبود لپاره ډول ډول پلانونه په وړاندی لري، چه ددی پلانونو له مخی داسلامي امارت وړانګی نورو سیمو ته ورځ په ورځ خپریږي.

پوښتنه:دسیمی دامنیت په باب څه رڼا واچوئ؟

ځواب:دالله تعالی احسان دی، دافغانستان دکنړ ونو اسلامي إمارت دپخواپه شان په هره سیمه او هرځای کی دامنیت دتأمین پخاطر ولسوالئ اوعلاقه دارئ دخلکو دامن اوسوکاله ژوند پخاطر فعالی کړي اوشپه او ورځ یی دکامل امن دتأمین لپاره په ځان .یوه کړیده، همدا وجه ده چه نن یی په ټولو سیمو کی کامل امن تأمین کړی دی او هغه څوك چه دسیمی امنیت ته خطر متوجه کوی، فوراً په اسلامی محکمه کی په سزارسیږی، نو پدی اساس څوك نشي کولی چه په سیمه کی بی امني پیداکړي.اودخلکو ژوند په خطر کی واچوي. نو دکنړ ولایت ټول اوسیدونکي اوس دالله په فضل ډیر آرام اوسوکاله ژوند تیروي اوخپلي ورځنئ چاري د پوره امنیت په فضاء کی سرته رسوي.

پوښتنه:داسلامي امارت اوسنی کارونه څنګه روان دي او څه ډول کارونه په وړاندی لري؟

ځواب:اسلامي امارت چه دکومو شرعي مقاصدواو اهدافو په بناء جوړ شویدی، دهماغو مقاصدواو اهدافو په لور ټول کارونه مخ په وړاندی ځي او د اسلامی امارت د ټولو مسئولینو محوله کارونه ډیر په اخلاص او صداقت پر مخ ځی.

اسلامي امارت دخپلو کارونو د سرته رسولو په خاطر مشخص ریاستونه جوړ کړي دي، چه هر ریاست خپل مربوط کارونه او چاری پرمخ بیایي.هغه لکه د احتساب ریاست، د کورنوچارو ریاست، د جهادي چارو ریاست، دبیاودانولو چارو ریاست،

د دعوت او ارشاد ریاست، دسوداګرئ ریاست، د زراعت اوبو او برښینا ریاست، دبهرنیو چارو ریاست،د دارالانشاء ریاست او داسی نور.

پوښتنه:آیا په اوسنیو بحراني شرایطو کی امکان شته چه اسلامي حدود تنفیذ کړئ؟

ځواب:مخکی هم د افغانستان د کنړونو اسلامي امارت داسلامي حدودو دتنفیذ مقصد په دی سیمه کی سرته رسولی او انشاءالله چه اوس یی هم لري.دالله تعالی فضل دی، چه اسلامي امارت مخکی هم ددی توان درلود او اوس هم داتوان لری، چه دالله تعالی په دی ځمکه کی اسلامي حدود تنفیذ کړي اولکه څنګه چه دکنړونو له ولایت څخه ترټولو اول دجهاد پیل شوی اودکمونست رژیم لمړنئ جنازه هم لدی ولایت څخه پورته شوی او په پای کی دا افتخار بیا هم دکنړونو دولایت په برخه شو، چه شرعي احکام پدی ولایت کی تطبیق شول، تر څو د راتلونکي افغانستان لپاره یوه پیاوړی نمونه وګرځي.

پوښتنه:که حدود تنفیذیږی د سیمی خلك څه انعکاس ښکاره کوي؟

ځواب:داسلامي حدودو تنفیذ په سیمه کی دامنیت سبب دی، ځکه الله تعالی فرمایي:«ولکم فی القصاص حیاة یااولی الالباب»

یعني دقصاص په تطبیقولو کی ستاسی لپاره ژوند دی، ای دعقل خاوندانو! معنی داچه که یو سړی دقتل په جرم قصاص شي، بل سړی بیا دقتل ارتکاب ته جرئت نشي پیداکولی. پدی

اساس دسیمی دخلکو ژوند په امن کی کیږي،دجرایمو مخه نیول کیږي او دعامو خلکو دخوشحالتیا اوسوکالۍ سبب ګرځي، ځکه خو ددی سیمی خلك داسلامي حدودو دتنفیذ هرکلی کوي او اسلامي احکام په ورین تندي مني او دشرعي حدودو تنفیذ دخپل (١٤)کلن اسلامي جهاد ثمره ګڼي او دافغانستان دیو نیم ملیون شهیدانو دکونډو او یتیمانو د آرمانونو تعبیر تری اخلي.

پوښتنه:آیا څوك مجازات کول دتنظیمي مخالفتونو سبب نه ګرځي؟

ځواب:تاسی ته دامعلومه ده، چه اسلامي امارت یو اسلامي حکومت دی. او چاته چه مجازات ورکول کیږي، هغه دیو جرم په اساس ورکول کیږي، هغه جرم چه هرڅوك وکړي او په هرتنظیم پوری چه تړلی وي.د نورو تنظیمونو مربوط خلك هم مسلمانان دي، نو دمجرم دظلم په سبب هیڅوك د هغه دفاع نشي کولی.اوبل داچه اسلامي امارت ددی ټولو تنظیمونو دمجاهدینو څخه جوړشوی دی. نو چه څوك مسلمان وي،هیڅکله د مجرم دفاع نشي کولی، بلکه په مجازات کولو یی خوښي څرګندوي.

پوښتنه:څه وخت مخکی واوریدل شول، چه داسلامي حزب مسلح کسان ستاسی ترتسلط لاندی سیمی ته داخل شوي وو، دهغوي مقصد څه ؤ؟

ځواب:داسلامي حزب څه کسان دخپلو وسلو سره داسلامي امارت منطقی ته داخل شوي وو، او له دی نه مخکی دسولی کمیسیون داپریکړه کړی وه، چه دیو بل سیمو ته به مسلح کسان نه داخلیږي، نو دغه کسان داسلامي امارت دموظفینول خوا ونیول شول او له تحقیقاتو وروسته معلومه شوه،چه هغوی پورته د سیند دری ته تلل، بل کوم مقصد یی نه درلود.

پوښتنه:داسلامي حزب او نورو وابسته تنظیمونو سره جګړی دعامو خلکو په ژوند څه آغیزه کړی ده؟

ځواب:کله چه داجنګ رامنح ته شو، دټولو اوسیدونکو په ژوند یی ډیره بده آغیزه وکړه،ځکه ددوی مالونه تالاشول، کورونه یی وران شول او داسی نورو ډیرو مایوسیو سره مخامخ شول.

همدارنګه ځاني تلفات یی نه هیریدونکي دي. مګر د الله تعالی په فضل کله چه اسلامي امارت بیا په سیمه حاکمیت پیداکړ،نو دسیمی دټولو اوسیدونکو خلکو مورال اوچت او زړونه ئی بیرته مطمئن او خوښ شول،ځکه هغوی ته ثابته ده چه اسلامي امارت ددی سیمی داوسیدونکو لپاره ددوی دخوښۍ اوسوکالۍ پلانونه عملي کوي.

پوښتنه:داسلامي امارت په افرادي قوت کی دپخواپه نسبت څه کمی - زیاتی راغلی؟

ځواب:داسلامي امارت په افرادي قوت کی زیاتوالی راغلی.ځکه چه مخکی اسلامي امارت دلته ؤ، نو ځینو خلکو به یی مخالفت کاوه او کله چه داتیره شوی جګړه منځته راغله او مخالف خلك دلته دڅه وخت لپاره قابض شول ، نو دمنطقی خلکو دهغوی بده وضعه او جنایتونه ولیدل. نو او س یی داسلامي امارت سره مینه پیدا شوی ده او دپخوا په نسبت اوس داسلامی امارت زیات ملاتړ کوي او اوس هرسړی په ډاګه داسلامي امارت دفاع ته چمتو د ی،اودا وایی:چه اسلامي امارت ددی سیمی لپاره یوازینی قانونی حکومت دی.

تعلیمات اسلامي

اخلاص

اخلاص لغتیست عربی بمعنی خالص ساختن و در اصطلاح اسلامی به عملی استنباط میگردد که تنها جهت کسب خوشنودی الله تعالی ایفاشده باشد وشمه ای از ریا وتزویر وکسب اهداف دنیوی وشهرت طلبی یاطلب معاوضه و حصول منفعت درآن سراغ نگردد.این لغت به احسان نیز تعبیر شده است.

پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم می فرماید:

فاخبرنی عن الاحسان.قال ان تعبدالله کانك تراه فان لم تکن تراه فانه یراك.(بخاری)

یعنی پیرامون احسان بمن بگوئید. فرمود:احسان اینست که عبادت الله را بجا آری طوریکه پنداری الله رامی بینی. اگر تو او تعالی را نمی بینی. بدون شك الله ترامی بیند.

اخلاص مقیاس عبادت است وبشمول ایمان همه ارکان اسلام بر وفق اخلاص سنجیده میشود. خالق کائنات درقرآن عظیم الشان می فرماید: فاعبدالله مخلصاً له الدین.(الزمر)

یعنی عبادت الله رابجا آرید توام با إخلاص واعتقاد.

اخلاص نخستین رکن اطاعت است در همه گونه عبادات قلبی، جسمانی، روحانی و مالی و حتی ایمان نیز با اخلاص استوار است.ایمان فاقد اخلاص به فحوای احکام قرآن نفاق است و در قرآن عظیم الشان مشرکین و منافقین ازین جهت نکوهش شده که درانجام نیکوئی ها دیگران را نیز بخاطر ابراز ریاء و تزویر شریك می پنداشتند.معنی لااله الا الله نیز همین مطلب را افاده میکند که الله جل جلاله معبودیست حقیقی ویکتا وهمه مان بندگان اوئیم پس بندگی پسندیده متقاضی آنست که همه نیکوئی های مان وقف الله باشد وهدف مان ازاعمال هر اقدام نیکو کسب رضا وخوشنودی پروردگار مان باشد نه خوشنودی این وآن.

قرآن مجید و آحادیث متبرکه اهمیت شایانی به اصل اخلاص داده و از متن قرآن این حقیقت هویدا میگردد که بعثت کلیه پیامبران نیز بر اصل اخلاص متکی بوده است:

در قرآن مبارك میخوانیم: وما ارسلنا من قبلك من رسول الانوحی الیه انه لااله الا انافاعبدون.

یعنی ای محمد(صلی الله علیه وسلم) به پیامبرانیکه پیش از تو بر گزیده ایم به همه شان هدایت داده ایم که جز من معبود حقیقی وجود ندارد پس همه تان مرا بپرستید.

اخلاص موهبتیست بزرگ وعاملیست عمده در جهت مهارساختن و در کنترول درآوردن نفس.هرکه اخلاص داشت در حقیقت بر نفسش حاکم بوده و هرکه حاکمیتش را برنفس خود تأمین نماید در حقیقت خوشنودی پروردگارش را بدست آورده است.نفس آدمی بزرگترین دشمن انسان است که او را به صوب نکوهیده ها می کشاند تااینکه بمرحله ئی میرسدکه از نفس خود پرستش بجا می آرد وبفرمانش میرود. قرآن عظیم الشان می فرماید:

«أرأیت من اتخذالهه هواه» یعنی

شخصی را مشاهده نموده ای که خواهشاتش را به الوهیت گرفته است. مهار شدن و به کنترول در آوردن نفس نیز عبادت واطاعت است وهنگامیکه آدمی خواهشات نفسی اش رازیر پا میگذارد درحقیقت یك عبادت مخلصانه رابجا آورده وبوسیله اخلاص است که میشود وصف ضبط نفس را در خود ایجاد کرد. اخلاص رکن عمده وجزء لاینفك همه عبادتهاست و عبادت منهای اخلاص به بارگاه الهی پذیر فته نمیشود.

قرآن مجید می فرماید:

قل إنی أمرت أن اعبد الله مخلصا له الدين وامرت أن اكون أول المسلمين٥ قل انی اخاف ان عصیت ربی عذاب يوم عظيم٥ قل الله اعبد مخلصاله دینی فاعبد واماشئتم من دونه. (سوره الزمر)

(ای پیامبر!)بگو بمن هدایت داده شده تابا اطاعت مخلصانه عبادت الله رابجا آرم وبمن دستور داده شده تا از نخستین گروید گان باشم بگو اگر از پروردگارم نافرمانی کنم از عذاب روز بزرگ می هراسم.بگو که از الله تعالی پرستش میکنم واطاعتم رابرای الله خالص میگردانم پس شما ای گروه نا فرمایان هر آنچه بجز الله خواسته اید بپرستید.

ازتوضیحات فوق مبرهن شد که اخلاص رکن اعظم همه عبادات و اطاعات قلبی،لسانی ومالی انسان است، اخلاصیکه تنها بخاطر الله تعالی باشد وشمه ای از اصنام پرستی ظاهری وباطنی و تعمیل خواهشات نفسانی در آن دخیل نباشد.

اعمال انسانی بر دو وتیره است یکی عمل مادی که از حرکات اعضای جسمانی انسان پدید می آید و دیگری اعمال روحانیت که برنامه اش در اغراض و اهداف نهانی قلب واراده ونیت وعمل مان پیریزی میگردد. بقاوبرکت دینی ودنیوی اعمال متناسب است باحسن وقبح وضعف و نیروی این پیکر روحانی که ادوار گوناگون تاریخ اعمال انسانی دال بر مدعای ماست . ازین جهت بصراحت میتوان گفت که بتاسی از احکام اسلام عبادت عاری از اخلاص پذیر فته نمیشود وهمچنان اخلاق ومعاملات بدون اخلاص به درجه عبادت نایل نمیگردد وباید بخاطر اینکه اعمال حسنه مان در پیشگاه الله متعال پذیر فته شود قبل از آغاز هر کار باید نیت خویشتن را از اهداف ومقاصد غیر مخلصانه پاك ومصفی ساخته وآنرا بخاطر ذات یکتا و بی همتای ربوبیت خالص گردانیم.

پیامبر اکرم صلی الله علیه و سلم ارشاد میفرماید:

انما الا عمال بالنیات وانما لکل امرئ مانوی فمن كانت هجرته الى دنيا يصيبها او الی امراة ينكحها وهجرته الى ماهاجر اليه. (بخاري)

یعنی کلیه اعمال مربوط ومنو ط است به نیت وبرای هریکی است آنچه وی اراده اش کرده است ، هر که هجرت نمود بخاطر کسب مال و سرمایه دنیا و یا بخاطر عقد نکاح بازنی پس هجرتش نیز بخاطر آن محسوب میگردد.

ازحدیث متبرکه فوق به وضوح پیدا است که صحت واعتبار اعمال صالحه مربوط است به نیت واراده.اگر نیت واراده آدمی احسن است وکار وعملش نیز بخاطر کسب رضای پروردگارش است بدون شك در بارگاه الهی نیزمورد پذیرش وتقدیر قرارمی گیرد واگرنیت واراده اش از اخلاص و آرزوی کسب رضای الهی تهی باشد وبنیان واساسش را به کسب امیال دنیوی استوار داشته باشد بدون شك مردود و قابل نکوهش است.

هجرت عملیست که ارزش آن در قرآن مبارك و آحادیث نبوی اظهرمن الشمس است مشروط برینکه هد ف ازآن بدست آوردن خوشنودی ذات اقدس الهی باشد نه کسب درهم ودینار و یا عقد نکاح بازنی. آگر هدفش کسب مال دنیا وبدست آوردن دوشیزه ای باشد، اجر و پا داشش به هدر می رود. این گونه اخلاص با تقوی نیز تعبیر وتعریف شده است طور یکه در سوره حج قرآن عظیم الشان میخوانیم

لن ينال الله لحو مها ولادمائها ولكن يناله التقوى منكم.

ترجمه:گوشت وخون قربانی به الله تعالی نمیرسد بلکه تقوای قلوب شما برایش میرسد. یعنی ذات اقدس الهی از اکل و شرب مبری است وبی نیاز.هدف الله متعال از دستوردادن به ذبح جانور در عیدا ضحی جز آز مون تقوای قلوب

مسلمانان چیز دیگری نیست .

رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:

.ان الله تعالی لا ینظر الی اجسامکم ولاالی صورکم ولکن ینظرالی قلوبکم (مسلم)

ترجمه:الله تعالی اجسام وصورتهای تانرا مدنظر نداشته بلکه قلوبتان را می نگرد.

که اخلاص اندرآن هست یاخیر . اگر قلوب تان مملو از اخلاص بخاطرالله تعالی باشد،عملش پذیر فته شده ورضای الهی نصیبش میگردد واگر اخلاص نباشد الله متعال نیز خوشنود نبوده است. ایمان واخلاص در حقیقت یکی اند زیرا کلمه لا اله الاالله ایمان است. وطی آن هرعمل غیر مخلصا نه مردود شمرده شده است ازین جهت کلمه مذکور به اخلاص نیز تعبیر وتعریف میشود. شخصی به پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم عرض نمود:

یارسول الله ماالإیمان قال الإخلاص. (بیهقی)

ای رسول الله ایمان چیست؟

فرمود: اخلاص.

درحدیث دیگری پیامبرصلی الله علیه وسلم می فرماید:

من فارق الدنیا علی اخلاص لله وحده لاشریك له واقام الصلوة واتی الزکوة فارقها والله عنه راض. (ابن ماجه)

یعنی اگر شخصی درحالی جهان فانی راترك گوید که به الله وحده لاشریك اخلاص داشته نماز را ادأ وزکوة را داده باشد، الله تعالی ازو خوشنود است .

اخلاص متضمن رفاه وآسایش امت مسلمه وکافه گیتی است وازیمن اخلاص مخلصین نصرت الهی نصیب مردم میشود.منجی بشریت می فرماید:

انما ینصر الله هذه الامة بضعیفها بدعوتهم وصلاتهم واخلاصهم.(نسائی)

یعنی افریدگار نصرت می فرماید به یمن دعا و نماز و اخلاص ضعیفان و نحیفان امت.

طوبی للمخلصین اولئك مصابیح الهدی و تنجلی عنهم کل فتنة ظلماء (بیهقی)

یعنی خوشا مخلصینیکه چراغ هدایت اند وبه وسیله، شان پرده های تاریك فتنه ها دریده میشود.

از حضرت معاذ رضی الله عنه مروی است هنگا میکه امر تقررم بحیث والی یمن از حضور پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم شرف صدور یافت عرض کردم: یارسول الله اوصنی.قال اخلص دینك یکفك العمل القلیل(الحاکم - ترغیب)

ای رسول الله بمن هدایت بفرما. فرمود در امور دین اخلاص کن کو چکترین عملی نیز برایت تکا فو میکند.ازآحادیث متبرکه پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم به وضوح آشکار است که تنها تصمیم و اراده برای انجام اعمال صالحه نیز مورد تقدیر و تمجید ذات اقدس الهی قرار میگیرد واگر عمل صالح انجام یابد ثوابش هفت صد چنداست.طور مثال اگر توام بااخلاص تصمیم گیرد که بعد از نیمه شب به ادای نماز تهجد می پردازد اما بافرا رسیدن اوقات تهجد از خواب بیدار نه شود با آنهم ثواب کامل تهجد نصیبش میشود.

پیامبر بزرگوار صلی الله علیه وسلم می فرماید:

من آتی فراشه وهو نیوی ان یقوم فغلبته عینه حتی اصبح کتب له مانوی وکان نومه صدقة علیه من ربه.

یعنی شخصیکه به بسترش امد وتصمیم داشت که نیمه شب به ادای نماز می پردازد اما به خواب فرورفت وتا صبح بیدارنه شد اجر نیت وتصمیمش ثابت شد وخواب برایش صدقه ای است از طرف پروردگارش.

ازحضرت انس بن مالك رضی الله عنه روایت است که ما درمعیت پیامبر اسلا م صلی الله علیه وسلم پس از اختتام غزوه تبوك به صوب مدینه در حرکت بودیم آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: کسانی در مدینه بودند که درمواقع نبرد باشما شریك بودند . عرض کردیم چگونه امکان پذیر است.آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود:آنها به اساس معاذ یر معقول از شرکت در غزوه تبوك باز ماندند، نه باساس نیت و اراده.ازین جهت آنهابه برکت خلوص نیت شان درصف مجاهدین غزوه تبوك قرار داشتند. (بخاری)

ادامه دارد

اسلامي عقايد او دامت د يووالي اساسي اصول دقرآن او سنت په رڼا کې

دوهمه برخه

درحيم گل «توحيد يار» ژباړه

سنت يا حديث:

٦- له قرآن مجيد نه علاوه دشريعت جوړولو لپاره دنبي كريم صلى الله عليه وسلم ټول اقوال او افعال او دصحابه كرام رضى الله عنهم په افعالو باندې د آنحضرت سكوت چه په اصطلاح كې ورته (تقرير)وايي، دسنت يا حديث په نوم يادېږي.

٧-سنت يوازې دعلم حديث دعلماؤ دټاكل شويو علمي اصولو په رڼا كې له ثابتو اومنونكو اسنادوڅخه اخستل كيږي او هغه خبرې چه له نبي كريم صلى الله عليه وسلمَ څخه ثابتې نه وي، نه ورباندې استدلال كيداى شي او نه ورباندې عمل كيداى شي.

٨- په سنت باندې ايمان او په هغه عمل كول داسې واجب دي لكه په قرآن ايمان لرل او په هغه عمل كول.له دغه لحاظه سنت له قرآن سره مساوي او برابر دي، داهم ضرورده چه مونږ بايد دسنتو په باب دا عقيده ولرو چه داهم دالله تعالى له لورى دى.

٩- سنت له قرآن سره ضد او مخالف نه دى،ځكه چه ددواړو سر چينه يوه ده. دالله تعالى ارشاد دى:وماينطق عن الهوى ان هوالاوحى يوحى(سورة النجم٣-٤)يعنى(پيغمبرصلى الله عليه وسلم) له خپل نفسانى خوا هش څخه خبرى نه كوى، بلكه دهغه ارشاد خالصه وحى ده.

انا انزلنا اليك الكتب بالحق لتحكم بين الناس بماراك الله ولاتكن للخائنين خصيماً(سورة النساء- ١٠٥) يعنى بى له شكه مونږ تاته په حقه سره كتاب وليږه، تر څو دهغه په رڼا كې دهغو خلكوتر منځ فيصله وكړې چه الله تعالى تاته په نخښه كړيدى او ته ددغو خائنينو طرفدارى مه كوه.

په هغو شرعى امورو كې چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم اجتهادات كړى،ټول په حقه او رښتيادي، ځكه چه الله تعالى هيڅكله هم خپل پيغمبر په باطله خبره باندې ټينگ نه ساتى.

١٠-هغه څه چه دصحيحو آسنادو له مخې دنبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه ثابت وى، اعتقاد او عمل ورباندې واجب دى.

١١-دتوحيد مسائل: په هغو

کایناتو کې چه مونږ او تاسې پکې ژوند کوو، خالق ئې یوازې او یوازې حکیم،علیم، قدیر او قیوم ذات الله تعالی دی.

۱۲- الله رب العزت دغه ټول کائنات عبث او خوشې نه دي پیدا کړي،ځکه کوم ذات چه دټولو غوره صفاتو لرونکی وي،هیڅکله هم په خپل تخلیق اوصنعت کې په عبث صفت سره نشي متصف کیدای. ددغه تخلیق په باب دالله تعالی په منشاء اوهدف باندې پوهیدل دوحې او رسول دموجودیت نه غیر ناممکن دي.

۱۳- الله تعالی پیغمبران علیهم السلام راولیږل او کتابونه یې نازل کړل،ترڅو خلکو ته دتخلیق هدف څرګند کړي اودژوند او معاد له غرض او مقصد څخه یې خبر کړي. الله تعالی دخپلو انبیاؤ او رسولانو علیهم السلام دتائید لپاره داسې معجزات او ښکاره نخښې څرګندې کړې چه ټولې ددې حقیقت ښکارندوی وې او په دې باندې یې ګواهي ورکوله چه هغه پیغام چه انبیاء کرامو علیهم السلام دخپل رب له طرفه راوړی، رښتیا دی.

۱٤- دنبوت دسلسلې تر ټولو وروستی پیغمبر نبی آخرزمان محمد صلی الله علیه وسلم دی چه الله رب العزت دهغه دتائید او نصرت لپاره دقرآن عظیم الشان ژوندئ او همیشنئ معجزه راولیږله او نور معجزات یې هم ورپه برخه کړل.

۱۵- الله تعالی خپل ډیر غوره صفات مونږ ته بیان کړیدي، چه په قرآن عظیم الشان کې موجود او نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته په نخښه کړیدي. پدغو اسماؤ اوصفاتو باندې مونږ دهغو دعربی معنی اومفهوم سره سم بې له کوم تحریف، تأویل او تشبیه څخه ایمان لرو، ځکه داهغه ژبه ده چه دغه صفات پکې نازل شویدي اوپدې خبره ایمان لروچه دالله تعالی دصفاتو دغه مفاهیم اودالله تعالی اسماءالحسنی ټول دتغظیم اوتکریم وړدي.

۱٦- مونږ دالله تعالی په صفاتو کې هیڅ ډول فرق او امتیاز نه کوو اونه وایو چه ځینې یې منو اوله ځینو یې انکار کوو اوپه ځینو کې ئې تاؤیلات او توجیهات کوو،بلکه وایو چه دا ټول زمونږ درب لخوادي.

۱۷- دانساني وجود غرض او هدف دالله تعالی معرفت او شناخت دی،لکه ځنګه چه الله تعالی خپل تعریف او توصیف اوحمد او ثنا بیان کړیدی او دهغه لپاره اطاعت او عبادت دی ، دغه اطاعت نه خوالله تعالی ته څه ګټه رسوي اونه زیان.دالله تعالی ذات له هغو نه اوچت او پاك دی، دایوازې ابتلاء،آزمایښت او امتحان دی او دعبادت کوونکی دنفس او قلب اصلاح او تزکیه ده.

۱۸-دمطیع اوفرمانبردار مؤمن جزاء جنت دی اودنافرمان کافر جزاء دوزخ دی.

۱۹-دالله تعالی له امرسره سم په زیاته خشوع اوخضوع سره کاملې فرمانبرداریٔ ته اطاعت ویل کیږی.که انسانی ذهن ئې درك او احساس وکولی شی یانه، خو که په عبادت کې یوله دغو صفاتو څخه موجود نه وی، نو عبادت باطل دی او سرته رسوو-نکی ئې دعذاب او عتاب مستحق دی.

۲۰- دمخلوقاتو دقدر او منزلت په نظر کې نیول واجب دي،دسنت په کتابونو کې دملایکو لپاره صفات، اعمال او حدودټاکل شوی او ثابت شوی دي، چه هغوی نشی کولی له

دغوحدودو څخه انحراف اوتجاوز وکړی، همدغه شان دجناتو معامله، دهغوی دهر فرد لپاره قدر منزلت او حدتاکل شوی دی چه په هغو کي غُلو،مبالغه یا غفلت ناجایز دی.

٢١- دپورتنی بحث حاصل دادی چه شرك په دوه ډوله دی:

(الف)دالله تعالی په صفاتو کی دکوم صفت له قدر اومنزلت څخه غفلت اوسترگی ورڅخه پټول یا دهغه څخه جحد او انکار کول ددغه ډول شرك په فرعی مسایلو کی دالله تعالی لپاره واسطی او شفاعت کوونکی ټاکل شامل دي، ځکه په دغه صورت کی الله تعالی ددنیا له پاچاهانو سره یو شان او مشابه گڼل کیږی او فکر کیږی لکه څنگه چه دلته په نړۍ کی دشفاعت او واسطی په قوت یو مجرم معاف کیدای شی،دالله تعالی په حضور کی شفاعت او واسطه هم باید وشی.(حاشا لله عن ذلك).

(ب)دمخلوقاتو په صفاتوکی ډیره غُلو او استغراق یعنی دمخلوق لپاره داسی صفات غوره کیدل، چه یوازی دالله تعالی لپاره خاص دي.ددی ډوله شرك په فروعاتو کی یوه دا خبره ده چه دانسانانو په ربوبیت او الوهیت اعتقاد وساتل شي او هغو ته له ټاکل شوی حق نه زیات عزت او تکریم ورکړی شی او هغه صفات ورته مخصوص شي،چه دالله تعالی له ذات نه غیر دهیچا لپاره مناسب نه دي.

٢٢-دانسانانو په دینی او دنیوی چارو کی دشریعت جوړولو او قانون جوړولو صلاحیت یوازی او یوازی دالله تعالی حق دی. چه هیڅ ډول انکار ورڅخه نشی کیدی.ددین عالمان دشریعت په حدودو کی دننه داحکامو په استنباط کی اجتهاد کولی شی او دشریعت له دایری څخه عمداً وتل ناجایز دي.

٢٣- انسان دخیر اوشر اونیکۍ اوبدۍ وسایل په خپله خوښه اوصلاحیت لاسته راوړی،خو دالله تعالی له مرستی او توفیق نه غیر هغه دخیر هیڅ یوه چاره سرته نشی رسولی او دشر مرتکب کیدلی شی.

٢٤- الله تعالی په ټولو هغو کارونو باندی چه واقع شوی وی، یابه په راتلونکی کی واقع شی علم لری او په هغو کارونو چه نه واقع کیږی هم پوهیږی.

٢٥- دقیامت علم یوازی له الله تعالی سره دی، دقیامت لپاره ځینی نخښی او علامی شته، چه ځینی ئی په قرآن عظیم الشأن کی بیان شوی او دنبی اکرم صلی الله علیه وسلم په ارشاداتو کی ئی مفصل بحث موجوددی.

٢٦- دانسان لوی کمال دهغه نیك عمل دی او صفت ئی دادی چه انسان خپل عبادات،معاملات، اخلاق او دژوند ټولی چاری په پوره اواحسن ډول سرته ورسوي او هدف ئی تری یوازی دالله تعالی خوښی اورضالاسته راوړل وی، وسیله ئی خوف الهی وی او په تقویٰ او خشیت کی دکمال او احسان درجی ته رسیدلی وی.

٢٧- مونږ له صحابهٔ کرام رضوان الله علیهم اجمعین سره مینه کوو او دهغوی لپاره داسی گواهي ورکوو، څنگه چه الله تعالی گواهي ورکړی او هغوی ته دالله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا دشهادت او جنت دبشارت ورکولونه وروسته که څوك دکوم یو صحابی تکفیر وکړی پخپله کافر کیږی.

ټوربیا

دافغانستان دجهاد بانی

شهيد الشيخ جميل الرحمن رحمه الله مرثيه.

لعل محمد «افسوس»

دمؤمن ملت آرزو وی، ته لارشود دمسلمان وی
ته دماتی ځښتن نه وی، دسنگر لوی پهلوان وی

دجهاد روح دی ژوندی کړ، ویده زړونه دی راویښ کړل
دتحریک د تنی ساه وی، هم قاید ددی کاروان وی

توری شپی په تا رڼا شوی، دتوحید بله چراغه!
یو مشال وی چه رڼاشوی، هم تصحیح دبد گمان وی

تیت پرک د ی منسجم کړل، دجهاد سنگر دی جوړکړ
ددښمن خولی ته گذاروی، واړه کفرته طوفان وی

یو لحظه دی قرار نه ؤ، ژوند دی واړه په اسلام کی
مال وسر پری تا قربان کړل، همیشه په دی آرمان وی

څه اثر دربانـدی نه ؤ، نهء دشرقه نهء دغربه
اراده دی مستحکمه، هم یو ډال وی هم سندان وی

ته تنها نه وی چه لاړی، تا روزلی داسی ډیر دي
دتوحید په باغ وین کی، ته ددی گلو باغوان وی

کارنامو ته دی حیران یم، استعداد دی عجیبه ؤ
نه ملك وې نه پیری وې، ته په جسم یو انسان وی

وی داعي دحق دلاري، چه راغلی وی دنیاته
ځلاند لمر راختلی، په تازه شینکي آسمان وی

دیتیمو دسر لاس وی، هم دسمال دړنو اوښکو
دمظلوم دزړه تسل وی، ددردونو ئی درمان وی

په جهان کی دی خپره کړه، داسلام چغه په زوره
کمونیزم رانسکورشو، هر طاغوت لره طوفان وی

دافغان په پاکه خاوره، یو ښایست وی یو جمال وی
شینکی خاله ځلیدلی، دوطن په زنخدان وی

عقیده دی دسلف وه، متبع دپیغمبر وی
دقرآن دبلی شمعی، یو پتنگ په هر زمان وی

دا پیرزو دعقیدت مـی، درته وړاندی ده قائده !
شهادت دی مبارك شه! واقعاًچه قهرمان وی

دمنځنۍ اسیا اسلامي هیوادونه

په پخوانۍ شوروي کې څه د پاسه شپیته ملیونه تنه مسلمانان اوسیدل، چه بهرنۍ نړۍ ئې له حال احوال څخه کاملاً بې خبره وه او دوی دکمونست خونخوار گوند او د کې،جي،بي ددوزخي دستگاه دزجر او کړاو په شکنجو کې پراته وو اودروسي استعمار منگولې ئې په مرۍ باندې داسې خښې وې، چه دآزادۍ تصورئې نه شو کیدی، خو بیا هم کله کله به داسې سپرغۍ له دغه پټ تناره څخه راپورته شوه، چه د دغې سیمې دحالاتو په باب به ئې څه نا څه خلك خبر کړل او هوښیاران به وپوهیدل، چه دمنځنۍ آسیا په هیوادونو کې دآزادۍ غوښتنې تحریك روان دی او ډیر زرده،چه دروسي استعمار داسارت ځنځیرونه له خپلوغاړو لرې وغورزوي.د روسي کمونست گوند په خپل اویا کلن استبدادی عصر کې دظلم او وحشت ډیرې حربې او وسیلې په کار واچولې، تر څو په اسلامي سیمو کې دیني جذبه له منځه یوسي، خو په دغه ناوړه هدف کې یې هیڅ کامیابي تر لاسه نه کړلي شوه.

په افغانستان کې دمؤمنو مجاهدینو په لاس دروسي پوځیانو شرمید لې ماتې نه یوازې دمنځنۍ آسیا په اسلامي هیوادونو ،بلکه د وارسا دبلاك په هیوادو کې دآزادۍ او حق خود ارادیت احساس راژوندی کړ او ټولو ته د روسي کمونستانو د بې غیر تۍ او بزدلۍ مقیاس معلوم شو. ټول په دې حقیقت پوه شول،چه مظلوم او په شمیر کم او بې وزله ملتونه هم کولی شي، چه دخپل ایماني قوت او جهادي احساس په برکت دیو ستر شیطاني طاقت گریوان ته لاس واچوي او داستبداد او تکبر شمله ئې په ځمکه راوغوزوي او همدغه دافغانستان دمجاهدینو سپیڅلی جهاد ؤ، چه نه یوازې دختیځې اروپا څخه ئې دکمونیزم منحوس تغر ټول کړ، بلکه پخپله ئې دروسي امپراتورۍ په زړه کې هم دآزادۍ غورځنگ پیاوړی کړ، زمونږ دمقدس جهاد په برکت دنړۍ نقشه بدله شوه،دروس استبدادي امپراتوري ړنړې وړې شوه او هر هیواد ئې د خپلې آزادۍ او بشپړ استقلال جنډه اوچته کړه. چه مونږ غواړو په دې بحث کې یوازې دمنځنۍ آسیا(۹) اسلامي سیمې خپلو گرانو لوستونکوته وروپیژنو:

دازبکستان جمهوریت:

دازبکستان هېواد مساحت ۱٤٦٠۲٤مربع میله دی او نفوس ئی لس ملیونه دی، پدغه هیواد کی د ازبك مسلمانانو تناسب دټول نفوس ۸۰فیصده برخه تشکیلوي،تاشکند د هیواد پایتخت او ثمرقند ئی دوهم لوي ښار دی،بخارا ،فرغانه، قشتادریه او سورخان ددغه جمهوریت بیلا بیل ولایات دي.

پدغه سیمه کی داسلامي علومو زیات شمیر نومیالي پوهان، محدثین، فقهي، فلسفي، ریاضي پوهان،د یوناني طب ډاکتران او دعلم نجوم ماهرین تیر شوي دي.

بخارا دسو قالینو جوړولو مرکز دی او خیوه دڅاروبو په روزلو کی شهرت لري. داسلام دمقدس دین پلوشی په اموي دور کی دخلیفه عبدالملك بن مروان په زمانه کی په اتمه میلادي پیړۍ کی دغی سیمی ته ورسیدی. داسلام مشهور سپاه سالار قتیبه بن مسلم باہلي د پرله پسی نهو کالو دجګړی نه وروسته په(۷۰۹) عیسوی کال کی دازبکستان سیمه داسلامي خلافت سره وتړله او ددغه فتحی نه وروسته ددغه ځای رسمي ژبه عربي وټاکل شوه. (۱۲) کاله دغه سیمه د اسلامي سلطنت یوه برخه وه. بخارا، خیوه او زق او خوقند ولایات پکی جوړ شول، په نولسمه پیړۍ کی روسی تز ارانو پدغه هیواد باندی قبضه وکړه او کله چه په۱۹۱۷کال کی دزار حکومت رانسکورشو، مسلمانانو په ثمرقند،خوقند او بخارا کی آزاد حکومتونه اعلان کړل او دخپلی آزادۍ له پاره پنځه کاله دکمونستانو سره وجنګیدل. په ۱۹۲۲ کال کی په ثمرقند کی دټول ترکستان اسلامي کانفرانس جوړ شو، چه درایو په اکثریت ترکستان د آزاد حکومت اعلان وکړ. خو کمونستانو ورسره مخالفت وکړ او دروس سرو پوځونو دمسلمانانو په قتل عام پیل وکړ، داسلام په خلاف ئی زهرجن تبلیغات پیل کړل، عالمان ئی ونیول، دیني او مذهبي مرکزونه ئی وتړل، په لمانځه پابندي ولګیده او هر څوك چه به په لمانځه ولیدل شو، سخته سزا به ورکول کیده. مدرسی وتړل شوی اوزیات شمیر عالمان دزجر او شکنجو په حالاتو ووژل شول، زیات شمیر دیني علماء دجبري کارونو کمپونو ته واستول شول، چه دخلاصون یی هیڅ لاره نه وه، یو وخت په منځنۍ آسیا کی تقریباً دوه زره مدرسی وی، خو نن به یوه هم ونه لیدل شی.

دسوسیالستو علماؤ دلی جوړی شوی او دا هغه علماء وو، چه دپیسو په بدل کی ئی خپل ایمان او ضمیر خرڅ کړ او نوی نسل ته به ئی ددین په لباس کی دالحاد درس ورکاوه او داسی به ئی تربیه کول،چه داسلام له عالي ارزښتونو څخه باید لیری پاتی شي. په اسلامي سیمو کی دشرابو څښل او خرڅلاو پیل شو، عربي رسم الخط یو ځل په لاتینی تبدیل شو او وروسته روسي رسم الخط دهغه په ځای رواج شو او په دی ډول له قرآن او حدیث سره دمسلمانانو اړیکی وشلیدی.

ددویمی نړیوالی جګړی په ترڅ کی کله چه جرمني په روسی باندی حمله وکړه، نو روس کمونستانو دمذهب په باب په خپله معاندانه پالیسۍ کی لږ څه نرمي ښکاره کړه او ددغه منافقانه سیاست په نتیجه کی ئی زیات شمیر

مسلمانان په روسي پوځ کی ورننه ایستل،تر څو د جرمني په خلاف تری دجګړی په میدان کی استفاده وکړي. دمسکو په ملي موزیم کی نن هم د مسلمانانو هغه جنډه لیدل کیږي، چه کلمه طیبه ور باندی لیکل شوی ده.

د روسي کمونستو جلادانو دغه مذهبي پالیسي کاملاً منافقانه او موقتي وه، چه دجګړی نه وروسته ئی بیا په مسلمانانو باندی دظلم او وحشت آسمان راکوزکړ.

دتاجکستان جمهوریت:

دتاجکستان پوله له افغانستان سره لګیدلی ده. ددی جمهوریت عمومي مساحت ۵۵۵۴۵ مربع میله او نفوس ئی دری ملیونو تنو ته رسیږي،د عمومي نفوس ۹۸ فیصده برخه ازبک او تاجک مسلمانان تشکیلوي،د جمهوریت مرکز د دوشنبی ښاردی، چه روسي نوم یي ستالین آباد ؤ. په اتمه پیړۍکی کله چه داسلام پیغام دغی سیمی ته ورسید،نو دهیواد ټول وګړي داسلام په مقدس دین مشرف شول. یوه تن مصري تاریخ لیکونکي ډاکتر عبدالرحمان ذکي لیکي:

چه په یوه ورځ په تاشکند او فاراب کی دوه لکه کورنۍ داسلام په مقدس دین مشرفی شوی. دروس تزارانو په نولسمه پیړۍکی په دغه سیمه قبضه وکړه.

په ۱۹۱۷ کال چه روسي تزاران له پښتو وغورزیدل، نو د تاجکستان مسلمانانو خپله بشپړه آزادي تر لاسه کړه.په لومړي وخت کی کمونستانو هیڅ ډول انعکاس څرګند نه کړ، خو کله چه دخپل ظالمانه اقتدار واګی یی ټینګی کړی، نو په تاجکستان ئی هم حمله وکړه. دجوماتونو نخښنی نښانی ئی هم ورانی کړی او علماء ئی له یوه سره ووژل او په ۱۹۲۹ کال کی ئی دغه سیمه دشوروي استعمار دیوی برخی په حیث اعلان کړه. تاجک مسلمانان په تاجکستان او افغانستان دواړو کی آباد دي،داموسیند دتاجکستان او افغانستان ترمنځ سرحد تشکیلوی.د افغانستان د جهاد په ترځ کی دافغانستان مجاهدینو د تاجکستان له مسلمانانو سره اړیکی پیدا کړي او په دغه وجه په تاجکستان کی دآزادۍ اوله روسي استبداد څخه دخلاصون احساس راژوندی شو.کوم تاجك پوځیان چه په روسي قواؤ کی افغانستان ته رالیږل شوي وو،هم د افغانستان دمجاهدینو په خلاف جګړه کی ئی زیاته دلچسپی نه اخسته او زیات شمیرئی له مجاهدینو سره ملګري شول، دروس جلادانو ددغه حالت په لیدلو سره داسلامی سیمو ټول پوځیان بیرته روس ته واستول او دهغو په ځای ئی روسي عسکر راولیږل. دافغانستان مجاهدینو دتاجکستان په زیاتو برخوکی دروسي قواؤ په مرکزونو باندی حملی کړی او دسیمو د مسلمانانو په ملګرتیا ئی روسي قواؤ ته زیاتی صدمی رسولی دي.

دترکمنستان جمهوریت:

د ترکمنستان مساحه ۱۷۱۳۶۹ مربع میله او نفوس ئی(۲۵) لکه دی، چه(۹۰)فیصده خلك یی مسلمانان دي،عشق آباد دترکمنستان پایتخت دی، بالتك او مرو چه اوسنی نوم ئی ماری دی، د اسلامي تهذیب او تمدن مرکزونه دي.

شیخ برید بن حاکم(رضی الله عنه) هم د نورو معروفو او مشهور محدثینو سره دغی سیمی ته راغلی دی. همداني جومات د ترکمنستان له تاریخي ودانیو

له جملې څخه حسابيږي، چه د شيخ يوسف همداني په نوم جوړشوی ؤ شيخ يوسف همداني دترکستان په سيمه کې دکفارو سره په جګړه کې يواهم کردار اداکړی ؤ.

په اتمه عيسوي پيړۍ کې دغه سيمه داسلامي سلطنت يوه مهمه برخه وه او د نولسمې پيړۍد زارتر حملو پورې دلته اسلامي سلطنت قايم ؤ.

دکمونستي انقلاب نه سمدستي وروسته ترکستان د يو آزاد رياست په نوم منځ ته راغی، مګر ډيرژر دروس سورفوځ په دغه سيمه ناجايزه قبضه وکړه او دشوروي اتحاد برخه يې اعلان کړه، او وروسته يې دغې سيمې ته دترکمنستان جمهوريت نوم کيښوده اوهلته کمونست حکومت قايم شو، ديني علماء يې ونيول اوپه هيواد کې دالحاد دتعليم لپاره اجير معلمين مقررکړي شول.

يوازې د۱۹۵٤عيسوي کال په دوران کې په دغه سيمه کې دمذهب په ضد(۷۰۰)غونډې وشوې او مسلمانان يې دبنياد پرستو په نوم ياد کړل او پدغه توريې ډيرو مسلمانانو ته دمرګ سزا واوروله.

دقرغزستان جمهوريت:

کله چه کمونستانو په اقتدار قبضه وکړه، نو ترکستان يې په مختلفو برخو تقسيم کړ او يوې برخي ته يې نوم قرغزستان کيښود.

ددغې سيمې مساحت ۷۵۹٤۲ مربع ميله دی اونفوس يې (۳۰) لکو ته رسيږي،چه۹۲فيصده خلك يې مسلمانان دي اوفرمند ددې جمهوريت پايتخت دی.

کله چه دغې سيمې ته داسلام پيغام ورسيد، نوخلکو ورته په ورين تندي او په داوطلبانه توګه لبيك ووايه او د خلکو لوی اکثريت داسلام له مقدس دين سره د وفادارۍ او قربانۍ لوړه وکړه.

دخلکو مينه داسلام سره دومره زياته شوه، چه له هرڅه نه وړاندې يې داسلام مقدس دين په خپل سياسي ژوندانه باندې حاکم کړ او اواسلامي حکومت اعلان شو، خو په نولسمه پيړۍکې دغه اسلامي حکومت هم دسيمې دنورو اسلامي جمهوريتونو په شان د روسي تزارانو له وحشيانه تاړاك سره مخامخ شو او په دې ډول داسلامي عدالت او اجتماعي سوکالۍ جنازه وچته شوه او دروسي تزارانو وحشيانه نظام پکې تينګ شو. کله چه دتزاريانو تسلط ختم شو، نو کمونستانو غوښتل چه دغه سيمه په خپله ولجه کې راولي،نو د سيمې ميړنو مسلمانانو دهغه ځای د علماؤ په قيادت د کمونستانو مخالفت وکړ، ليکن د ناکامۍ سره مخامخ شول.

يو تن عيسائي ليکوال ليکي:

چه دکال ۱۹٤۰ميلادي پورې دبې دينه کمونستانو له لاسه تقريباً پنځوس زره علمأ او مذهبي مشران شهيدان کړې شول.او دروسانو د وينا مطابق دکال ۱۹٤۱ميلادي پورې تقريباً يوزر جوماتونه په ترکستان کې وتړل شول.

(نوربيا)

حديث ابدال

ذكرأهل الشام عندعلي(رضي الله عنه) وقيل:إلعنهم يا أمير المؤمنين قال: لا، إني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:الأبدال يكونون بالشام وهم أربعون رجلا كلما مات رجل أبدل الله مكانه رجلا يسقى بهم الغيث وينتصر بهم على الأعداء ويصرف عن أهل الشام بهم العذاب.هذا اللفظ يروي عن شريح بن عبيد عن علي(رضي الله عنه)اين حديث كه بنام حديث ابدال ياد ميشود ومبتدعين آن را نقل محافل خويش مي گردانند،در كتابهاي ذيل پيدا ميشود:

١-تنزيه الشريعة عن الأخبار الشنيعةالموضوعة جزء-٢- ص:٣٠٦.

٢-الفوائد المجموعةفي الأحاديث الموضوعة - ص:٢٤٥

٣-كشف الخفا والإلباس.جزء١ ص-٢٥

٤-اللآلى المصنوعة في الأحاديث الموضوعة جزء٢ ص:٥٣٣٠-المقاصد الحسنة ص:٨

٦-حلية الأولياء-جزء١ص:٨

٧- المنار المنيف ص:١٣٦

٨-الأسرارص:٧٦-٤٩١

٩-تمييزالطيب عن الخبيث ص٤

١٠-ضعيف الجامع الصغير رقم:٢٢٦٦

١١-تذكرة الموضوعات ص:١٩٣

١٢-مشكوة مصابيح جزء٣ص:١٧٦٧رقم حديث ٦٢٦٨ تحقيق ألباني.

كسيكه عربيت را ميداند وعلاقه داشته باشد كه حال حديث ابدال را بداند بروى لازم است كه تعليق علامه احمدشاكر(رحمه الله) را بر حديث ابدال درمسند احمد بن حنبل مطالعه كند، بعد از آن ميداند كه حديث ابدال ثبوت ندارد ونسبت آن به رسول الله صلى الله عليه وسلم درست نيست.تعليق احمدشاكر ازين قراراست:

(اسناده ضعيف لانقطاعه) لأن شريح بن عبيد الحضرمي الحمصي لم يدرك علياً بل لم يدرك إلا بعض متأخري الوفاةمن الصحابة.

سخاوي در المقاصد الحسنة(ص٨) مي گويد:

«له طرق عن انس بالفاظ مختلفة كلها ضعيفة»،باز در(صفحه٩)اين كتاب مي گويد:«بعضها أشد في الضعف من بعض». اين سخن را بعد از آن مي گويدكه چندين طرق حديث مذكور را ذكر ميكند، الباني در تعليق خود كه بر مشكات كرده است، حديث ابدال را كه شريح آن را از علي مرفوعاً روايت كرده، چنين گفته است:(اسناده منقطع)ابن قيم در «المنار المنيف- ص:١٣٣» مي گويد:«ومن ذلك اي من الأحاديث الموضوعة أحاديث الأبدال والأقطاب والأغواث والنقباء والنجبا والأوتاد كلها باطلة على رسول الله صلى الله عليه وسلم». بازدر همين صفحه مي گويد:

«واقرب ما فيها: لا نسبوا أهل الشام فإن فيهم البدلاء كلما مات رجل منهم ابدل الله مكانه رجلا آخر، ذكره احمد ولا يصح ايضاً فإنه منقطع».

حاصل اينكه حديث ابدال از چند طريق روايت شده است كه بهترين طرق آن شريح از علي رضي الله عنه است وآن حديث است كه در عنوان اين انقطاع سند آن-طوريكه پيشتر ديديد- ضعيف ميباشد. بنا بر آن بر هر مسلمان لازم است كه اين حديث غير ثابت را هر جاكه مي شنود، ردكندوساحهء رسول الله صلى الله عليه وسلم را از امثال آن پاك نگاهدارد، حديث ابدال بر علاوهء عدم ثبوت آن مغنايي را دربر دارد كه ربوبيت پرودگار وهم الوهيت پروردگار را مردم نادان ازطريق همين حديث براي غير او تعالى ثابت ميسازند چرا كه در آن حديث الفاظ خطرناك آمده است:يسقى بهم الغيث!وينتصر بهم على الأعداء! ويصرف عن أهل الشام بهم العذاب.

يك نصيحت:

برهمه برادران مثقف ما لازم است هر كسيكه براي شان كدام حديث را مي خواند، آن را فوراً بنام حديث قبول نكنند، مگر بعد از آن كه بدانند حديث در بخاري يا در مسلم آمده است، اما اگر حديث دركتابهاى ديگر باشد مثل ترمذي،ابوداؤد ، نسائي،ابن ماجه، مستدرك حاكم،صحيح ابن حبان،صحيح ابن خزيمة، مسنداحمد،مصنف عبدالرزاق، مصنف ابن ابي شيبة، حلية الأولياء، معاجم سه گانهء طبراني،وصدهاكتب ديگر حديث، پس از گويندهء حديث بپرسد كه حال اين حديث چطور است، صحت داردياخير؟ ثابت است ياخير؟چراكه درين كتابها خصوصاً در مشكات چيزهاى هست كه اصلاًحديث نيست يا ضعيف است كه رد آن لازم است وحديث ابدال كه در عنوان اين مقال ذكر شد، از همين قبيل است مبتدعين اند كه آن را نقل مجلس ميسازند ومردم بيچارهء ما را ذريعهء آن گمراه مي كنند وعقايد شانرا خراب ميسازند(مقاله نوشته شده از -مسند احمد بن حنبل جزء٥ص:٣٣٢)

دکنړونو داسلامي امارت ددعوت او ارشاد له رئيس محترم عبدالحميد (شورش) سره مرکه

دافغانستان دکنړونو داسلامي إمارت ددعوت او ارشاد له رئيس محترم عبدالحميد«شورش» سره د دعوت مجلې نماينده لعل محمد«افسوس» دروان ميلادي کال د فبروري د مياشتې په (۲٦) نيټه په اسعدآباد کې يوه مرکه کړې ده، چه مونږ يې متن دګرانو لوستونکو په خدمت کې وړاندې کوو:

دمرکې په پيل کې محترم شورش د دعوت دمجلې له خبريال نه شکريه وکړه،چه دافغانستان د کنړونو داسلامي إمارت مرکز اسعدآباد ته ورغلی او غواړي داسلامي امارت په باب معلومات تهيه او خلکو ته يې وړاندې کړي.

پوښتنه: داسلامي امارت د شعباتو او دفاترو د فعاليتونو په باب معلومات راکړئ؟

شورش: دا چه دکنړونو اسلامي امارت دکنړونو دولايت دټولو جهادي تنظيمونو دګډو تعهداتو اوددې ولايت داکثريت خلکو په ملاتړ داسلامي جهاد د يونيم مليون څخه د زياتو شهيدانو، کونډو رنډو، يتيمانو،معيوبينو، مهاجرينو او مجاهدينو د شرعي ارمانونو دلاس ته راوړلو او داسلامي انقلاب داهدافو دتطبيق په خاطرتأسيس شوی دی، طبعاً داسلامي امارت ټول اداري ارګانونه، شعبات او دفترونه،مرکزي او اطرافي اداري مکلفې دي، چه دخپل نه ستړي کيدونکي زيار،کار او فعاليت په اساس داسلام دخدمت او د مسلمانانو دنيکمرغه ژوند دتأمين شرف تر لاسه کړي.اود اسلامي امارت ټولو دفترونو او شعباتو دخپل تأسيس له اولې ورځې څخه تر اوسه پورې نه هيريدونکي خدمتونه کړي دي، چه دهغو په نتيجه کې دکنړونو ولايت دهرې ورځې په تيريدلو سره دآبادئ په لور ګامونه اخلي او ددې منطقې داوسيدونکو دسوکالئ په خاطر زيات ګټور کارونه تر سره شوي دي. چه تاسې کولی شئ ددې سيمې موجوده حالات له هغو حالاتو سره چه ددې ولايت دفتحې په لمړيو وختونو کې وو، مقايسه کړئ.

پوښتنه: آيا د اسلامي إمارت په شورئ کې نور تنظيمونه هم ګډون لري او که نه؟

شورش: ستاسې له پوښتنې څخه څرګنديږي، چه دځينو مغرضو او منفعت پرستو اشخاصو ناوړو تبليغاتو داپوښتنه ستاسې او يا نورو خلکو په ذهن کې رامنځ ته کړې وي، ليکن حقيقت دادی چه داسلامي إمارت په سياسي او اداري ساختمان کې دمرکزي شورئ او اجرائيه شورئ په نامه دوه شوراګانې وجود لري، چه داسلامي امارت ذيصلاح ارګانونه دي. او په دې دواړو ارګانونو کې دکنړونو دولايت دټولو جهادي تنظيمونو نماينده ګان غړيتوب لري اويه پوره اخلاص خپل محوله وظايف او مسؤليتونه سرته رسوي البته يو څو دګوتو په شمار په ځان مئين اشخاص د اسلام او مسلمانانو د مصالحو په مقابل کې مطرح نه دي. چه کولی شئ زما ددې ادعا د ريښتينولئ په باب دمرکزي او اجرائيه شورئ له غړو سره دتماس په نتيجه کې پوره قناعت حاصل

کړئ.

پوښتنه: د نورو تنظیمونو وضعه له اسلامي امارت سره څنګه ده؟

شورش: دکنړونو دولایت دټولو جهادي تنظیمونو داکثریت غړو ملاتړ داسلامي امارت سره یونه پڅیدونکی حقیقت دی. او ددی اصل وجه داده چه ددی ولایت اوسیدونکی مؤمن اوقهرمان مجاهد اولس دخپل دیني مسؤلیت او اسلامي بصیرت په لرلو سره اسلامي امارت دافغانستان داسلامي جهاد دغایی او هدف په منصب پیژني او په دی لاره کی هر ډول خدمت ته اماده او چمتودي.

پوښتنه: دملګرو ملتونو د پنځه فقریز پروګرام، په باب چه هڅی یي په اوسنی وخت کی ډیری تندي شوي دي، داسلامی امارت دریځ څه دی؟

شورش: دافغانستان دقضیی په رابطه داسلامي امارت دریځ له پخوا څخه واضح او ځرګند دی. او هغه داچه ټولی هغه هلی ځلی او جریانات چه په افغانستان کی داسلامي حکومت دقیام سبب وګرځي او دقانون اصلی مرجع قرآن او سنت وټاکی، مونږ یی په کلکه ملاتړ کوو.او ددی آرمان دتحقق په هیله به تر آخری سلګئ پوری عملي جهاد ته دوام ورکوو.

پوښتنه: د کابل حکومت کوښښ کوي،چه د مجاهدینو قومندانانو سره تماسونه ونیسي،آیا تراوسه یی د اسلامي امارت له کوم قومندان سره کتلي دي او که نه؟

شورش: داسلامي امارت قومندانان او مجاهدین داسلامي امارت د دریځ ممثلین او مدافعین دي،که د کابل له حکومت هرڅومره هلی ځلی په دی غرض وکړي، د تل لپاره به له نااميدئ سره مخامخ وي او داځکه چه داسلامي امارت قومندانان او مجاهدین به دکابل حکومت سره دتماس په نتیجه کی دخپل جهادي تاریخ په پاکه لمن دغه تور رسوا کوونکي داغونه ونه مني. او نه به دخپلو شخصي ګټو په خاطر داسلامي جهاد مصالحو ته زیان ورسوي، بلکه په دی هڅه کی دي چه د کابل حکومت د پرزولو تاریخي شرف تر لاسه کړي.

پوښتنه: دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)د قتل په باب ستاسی نظر څهٔ دي؟

شورش: دمفکر اسلام او امام الجهاد شهیدشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) دقتل په هکله له اولی ورځی څخه تر اوسه پوری دی حقیقت زما په ذهن کی ځای نیولی دی، چه نوموړی دافغانستان دجهاد باني اوداسلامي دعوت پاکباز او ریښتینی داعي داسلام ددښمنانو دګډ سازش او توطئی په نتیجه کی په شهادت رسیدلی دی.او دغه توطئه د پردیو په چوپړتوب کی دعمر خوړلی شخص په لاس عملي شوی ده.او هغه ورځ لیری نه ده چه دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) قاتلان به دخپل جنایت کارانه عمل منطقی انجام ته ورسیږي.

پوښتنه: په آخر کی د نړئ مسلمانانو او د افغانستان مجاهدینو ته څه پیغام لرئ.

شورش: خپل پیغام دنړئ مسلمان ملت او په خاصه توګه دافغانستان مؤمن مجاهد ملت ته په لاندنیو څو اساسي ټکو کی خلاصه کوم:

الف-خپل منځي اختلافي مسأیل دقرآن او سنت په رڼا کی حل وفصل کړئ او د ټول مسلمان امت داوسپنیز وحدت او یووالي لپاره له هر ډول شخصي، تنظیمي، منطقوي، ژبني او نژادي امتیازاتو څخه لاس په سر شئ. او دبنیان مرصوص په څیر دنړیوال کفر او استکبار دتجاوزکارانه او جارحانه خصلت په مقابل کی اسلامي جهاد د ژوند کرنلاره وګرځوئ.

ب- ټولی هغه دسیسی او توطئی چه نړیوال کفر یی دمسلمان امت دنابودئ لپاره په کار اچوي؟ په پوره اسلامي بصیرت او فراست خنثیٰ کړئ او دښمن له نااميدئ سره مخامخ کړئ.

ج- پخپل ټول توان او قوت سره دالله تعالی دنصرت په اتکا، دنړیوال اسلامي غورځنګ په راژوندي کولو کی هلی ځلی وکړئ، پخپلو هیوادونو کی داسلامي حکومت د قیام او د یو بین المللی قدرت په توګه دنړیوال اسلامي نظام دتأسیس په جهت کی خپل مادي او معنوي قوتونه په هما هنګه او مؤثره توګه په کار واچوئ.

د- دافغانستان دمجاهد ملت څخه په خاصه توګه داهیله کوم، چه په پوره احتیاط، صبر او استقامت داسلامي جهاد دعزت او عظمت په ساتلو کی دهیڅ ډول خارجي فشارونو په مقابل کی اوږه ښکته نه کړئ او په افغانستان کی داسلامي حکومت دقیام لپاره خپلی هلی ځلی له پخوا څخه لازیاتی منظمی او مؤثری کړئ او دجهاد صفونه له مشکوکو او دپردیو په خدمت کی دپیژندل شوو عناصرو څخه تصفیه کړئ.

والسلام



دښمن مو وپیژنئ
ماسونیت

داسلامي امت تر ټولو خورا لویه او خطرناکه دښمنه ډله «ماسونیان» دي. اسلامي نړۍ تر ډیرو کلونو پوری ماسونیت نه پیژانده، خو په وروستیو کلونو کی یی دفرانسی، انګلستان، ایتالیی او جرمني له لاری وپیژانده.دغه ډله یوه پخوانۍ سري او ورانوونکی ډله ده،چه«مصوینه»هم ورته ویل کیږي، څکه هغوی خپل رازونه ډیر پټ ساتي.

دغه حرکت چه دیهودانو له خوا پیل شوی، هرډول خلك یی له ځان سره ملګري کړی او داسی کسان یی راټول کړي چه مختلفو ادیانو، مذاهبو، هیوادونو او قومونو ته منسوب دي:ملحد او غیرملحد،کمونیست او قوم پرست، سرمایدار او کارګر، اریسطوکرات او دیموکرات یی ټول په یوه فکر سره راټول کړي دي، چه ظاهراً ټول ددی فکر لپاره کار کوي، خوپه حقیقت یی یوازی دګوتو په شمیر کسان پوهیږي اویس.

په تنظیم کی دغړو اکثریت ډیرندوپه شان په کامله بی خبرۍ کی یو په بل پسی روان اوداسرارو په ساتلو باندی مکلف دي اوله ټولو څخه ژمنه اخلي او سوګند ورکوي، چه دسوګند متن یی په لاندی ډول دی:

«دکائناتو په ستر انجینیر سوګند خورم، چه دماسونیت اسرار به نه ښکاره کوم، دهغه نخښی، خبری (زده کړی) او عادات دتل لپاره په سینه کی پټ ساتم او همدارنګه دکائناتو په ستر انجینیر می سوګند دی، چه دتنظیم له ژمنی سره به خیانت نه کوم او داسی اشاره، خبره او حرکت به نه کوم، چه دتنظیم له اسراروسره خیانت وي او داسی طباعت، لیکنه، عکس او سهنسلونه به نه نشروم، چه دتنظیم اسرار څرګند کړي او که له دې سوګند څخه می سرغړونه وکړه، نو زه راضي یم چه شونډی می په سره شوی اوسپنه وسوزول شی، لاسونه می پریکړی شي او غاړه می غوڅه کړی شی او مړی می دماسونیانو په محفل کی ځوړند شي، څو دتنظیم نورشاګردان ئی وګوري او عبرت تری واخلي، بیامی مړه تنه وسوزول شي او ایره ئی په هواکی وشیندل شي، ترڅو چه دخیانت هیڅ اثر می پاتی نه شي».

څیړونکی وائی چه دماسونیت تهداب یهودانو ایښی دی، هغه یهودیان چه دانسانیت دمسخ کولو او تخریب لپاره ئی خطرناك چالونه او له چل او فریب نه ډك وسایل او ډول ډول هلی ځلی په کار اچولي،څو انسانیت د یهودو دلاس آله وګرځوي او دشیطان په لارښودنه بشریت

فاسد کړي او دهدايت او نجات له هغی لاری څخه ئی واړوي،کومه چه انبياؤ عليهم السلام راوړی ده.

دماسونيت تاريخ:

هماغسی چه دمخه موږويل اسلامي نړۍ تږدیرو کلونو پوری مأسونيت نه پيژاند، پدی اساس په عربي متونو کی دماسونيت په باب څه نه ليدل کيږي، خو غربيانو دماسونيت په هکله ډيری ليکنی کړي.په اسلامي نړۍ کی هغه څه چه ليکوالانو دماسونيت په باب ليکلي، دوه ډوله دي:

يو ډول ئی داسی ليکنی دي چه مأسونيت تائيدوي او بل ډول ئی ردوي. په وروستيو کلونو کی لانديني کتابونه دماسونيت په هکله تأليف شوي:

١- تاريخ الماسونية العام (دماسونيزم عام تاريخ) د«جرجی زيدان»ليکنه .

٢-الاداب الماسونية (دماسونيت آداب) - د «شاهين مکاريولس» ليکنه.

٣-شيعة الماسونية (دماسونيزم ډله)- د«ابا ءاليسيوعين» ليکنه.

٤- البناية الحره وروح الماسونية (آزاد جوړښت او دماسونيزم روح)- د «احمد ذکی ابو شادي» ليکنه او داسی نور...

هغه څه چه دپاملرنی وړدي دادي چه د ماسونيزم تقريباًټول اصطلاحات، کلمات، رمزونه، اشاری او تعبيرونه له عبراني يعنی ديهوديانو له ژبی څخه اخيستل شوي،چه بی له شکه داددی خبری ډيرښه ثبوت دی، چه ماسونيت ديهودانو پلاس جوړشوی تنظيم دي.

دماسونيزم د پيدايښت په هکله تاريخ پوهان مختلفی نظر يی لري. ځينی وائی چه ماسونيت له اتلسمی پيړۍنه وروسته پيداشوی او ځيني نور وائي چه داحرکت د«صليب الوردی» له حزب نه کوم چه په (١٦١٦م) کال کی جوړشو، راپيداشوی دی ، يوه بله ډله ئی په صليبی جنگونو پوری تړي، ځيني ئی داتمی ميلادي پيړۍيعنی پخواني يونان محصول گڼي، خو حقيقت دادی چه ماسونيت ديهودانو دفکر او لاس زيږنده ده. او په (١٨) پيړۍکی منځته راغلی او له پټ قوت څخه تری تعبير کيده، يهودانو وغوښتل چه دخپل شوم هدف دتحقق يعنی دبنی اسرائيلو دنړۍ وال حکومت دجوړيدو او دخپل پخواني برم د بيرته لاسته راوړلو پخاطر خپل ټول قوت او امکانات پکار واچوي، پدی اساس ئی دماسونيت دبنسټ ډبره کيښوده.

يو امريکائی ليکوال چه «وليم کای کار» نوميږي او کتابونه ئی د« احجارعلی رقعة شطرنج» او «الدنيا لعبة اسرائيل» په نامه په عربي ژبه ترجمه شويدي،وائي:

يونصراني راهب چه «آدم وايز هاويت» نوميده، د جرمني اوسيدونکی او له خپل دين څخه مرتد شوی ؤ،يهودي سرمايدارانو هغه مکلف کړ، چه يهودي مقرراتو ته مراجعه وکړي او يهودي مقررات له سره ترتيب اوڅه زياتوالی او کموالی په کی وکړي.«هاويت» د يهودي مشرانو لپاره يو شمير پروگرامونه جوړ کړل، چه د هغوی د تطبيقولو په ذريعه دديني ارزښتونو او اخلاقو د له منځه وړلو، دحکومتونو د ورانولو او په ټولو ټولنو کی د کينی اوحسد دتخم دکرلو او د فحشاؤ دخپرولو لپاره تری کاروا‌خستل شي، چه د صهيونيزم، کمونيزم او سرمايداري فلسفو له همدغه ځايه نشئت کړی دی.

د«هاويت» په نظر دماسوني ټولنی له جوړولو څخه مقصد، يونړۍ وال واحد حکومت جوړول دي اوداحکومت به له هغو اوچتو او نوابغو اشخاصو څخه جوړ وي، چه اوچت فکري استعداد ولري. له همدی کبله دغرب ډير پوهان او مثقف کسان پری غوليدلي اوله نورو ملکونو څخه يی تقريباً د دوه زرو کسانو په شاوخوا کی پوه او د پوهنتونونو تکړه استادان، اديبان، د فن او اقتصاد پوهان راجلب کړي او پدی وروستنۍ موده .کی يی د«شرق دلويی ماسوني ټولنی» تر عنوان لاندی يو پروگرام جوړ کړی، چه ددنيا په نشراتي ټولنو يی غښتلی تاثير اچولی دی.

دمأسونیت او یهودیت اړیکې:

ځینی خلك دانه مني چه ماسونیت د یهودانو تنظیم دی، خو ډیر داسی دلایل شته چه نوموړی حرکت یهودی حرکت بولی او شك او شبهې ته په کی ځای نه پاته کیږي. دصهیونستانو پروتوکولات ډیر داسی اسناد رانیشیي اوثابتوي چه ماسونیت د یهودیت یوه ښانگه ده، خو مونږ دلته دمونی په توگه د هغه څو فقری ستاسومحترمو لوستونکو له نظره تیروو:

دوئ لیکي:« تر څو چه مونږ قدرت ته رسیږو،کوښښ کوو، چه ماسونیت په ټوله نړۍ کی خپورکړو او هر هغه_څوك چه دعامی روح لرونکی وي، دی حرکت ته راجذب کړو.همداپه نړۍ کی خواره مأسونی مرکزونه به زمونږ دجاسوسۍ او تبلیغاتو مهم او لوي ځایونه وي .

داټول مرکزونه به تریوه داسی مرکزي قیادت لاندی کار او فعالیت کوي، چه یوازی مونږ(یهودیان) به ئی پیژنو او زمونږ له علماؤ نه به تشکیل وي. دامرکزونه به خاص او خصوصي ممثلین لري، ترڅو هغه ځای چه زمونږ حقیقی قیادت په کی اوسیږي، پټ وساتلی شو، یوازی همدا قیادت به ددی صلاحیت لري، چه دنني نظام او رواج په رڼا کی خبری کوونکی وټاکی او په همدی مرکزونو کی به داشتراکیاتو او دټولنی د ټولو انقلابی طبقاتو دښکار لپاره جالونه غوړوو ،زیاته برخه پټ سیاسي پروگرامونه راته معلوم دي او دتشکیل سره یو ځای ئی دتنفیذ او تطبیق په لور بیایو.

د بین المللی پټی پولیسی شبکی ټول افراد به دهمدی مرکزونو غړي وي، پولیسي خدمتونه مونږ ته ډیر ارزښت لري، ځکه چه هغوی کولای شي زمونږ په پلانونو او طرحو باندی پرده واچوي او دخلکو ترمنځ زمونږ هر ډول ظلم او جبر زمونږ په گټه تعبیر او تفسیر کړي او هم زمونږ مخالفین تهدید ولای او تعذیبولای شي.

زیات شمیرخلك بی هدفه او نا اگاهانه ځینو مؤسسو او مجتمعاتو ته . داخلیږي او هدف ئی داوي، چه په هرترتیب سره وي خپله شپه سباکړي او دا یی نه خوښیږي، چه ستړیا او تکلیف وگالي، مونږ هم دداسی خلکو په وسیله کولی شو، چه خپل اهداف په اسانۍ سره لاسته راوړو او خپل ماشین پری په حرکت راولو.

کله چه په نړۍ کی څه فتنی پیداکیږي، داددی معنی لري، چه زمونږ مخلص وکیل به ددی فتنو په رأس کی واقع وي او دابیخي طبیعي خبره ده، چه مونږ یوازینی ملت یو، چه مأسو نی طرحی جوړوو او عملي کوو ئی، غیر یهودان دماسونیزم په ډیرو کارونو لاخبرهم ندي او نه پوهیږي چه هغه څه غواړي او څه کوي؟

غیر یهود په پوره بی باکۍ او بی پروائی سره ماسوني حلقاتو ته ځي او راځي او یائی داهدف وي، چه هلته له موجودو ښو شیانو څخه برخه واخلي او ځینی خو بیخي دننه ورځي، ځکه چه هغوی ددی توان درلودونکي وي، چه خپل جاهلانه افکار دمحافلو په وړاندی بیانولی شي.

غیر یهود ډیر په عواطفو او دنیکۍ په نارو پسی گرځیږي او مونږ داشیان بی حسابه او بی کتابه ویشو او پدی خاطرئی مونږ پریږدو، چه خپل بری ترلاسه کړي، ترڅو ټول هغه کسان چه دغرور په لاس کی پریوزي، دخپلو گټو لپاره استعمال او توجیه کړو او هغه کسان چه ناخود آگاه زمونږ افکارو ته تسلیمیږي او قبلوي ئی، نو پداسی حال کی هغوی په خپل شخصي عصمت بالکل باوري وي.

تاسی شاید ونه پوهیږئ چه دغیر یهودو تر ټولو ماهرکسان په څومره آسانۍ سره دغرور او خودبینۍ په مرسته دبی عقلۍ او جهل هغی درجی ته کوز وو، چه هر څوك باید وربانده وخاندي، یعنی لومړی هغه دغرور او خودبینۍ په تخت کښینوو، نو بیا داهم اسانیږي چه دهغه شجاعت او عزیمت حتی دده دکارونو په نه توصیف کولو او دهغه په مقابل کی دکمی بی تفاوتۍ پواسطه له منځه یوسو،

نو چه دا مو پری وکړل، نورنو تسلیم شوي او ذلیل وي.»

(دحکماء صیهون پروتوکولات)

دصهیونیزم له حکماؤ څخه یوتن چه «هرتزل» نومیږي،وائی:«په نړۍ کی تیت مأسوني مرکزونه زمونږ دګټو ساتندوئ او هدف ته زمونږ درسیدو وسایل دی، پست نصرانیان زمونږ سره په آزادئ کی مرسته کوي او زمونږ غیریهودي نوکران زمونږ دسعادت لپاره ډیرڅه کوي.»بل ځای وایی: داختنزیران (غیر یهودان) ماسونیت نه پیژني او همداوجه ده، چه دهغه د اهدافو په هکله څه شك او تشویش نلري. مونږ هغوی په خپلو مرکزونو کی اچولي دي اوبدی وسیله ئی په سترګو کی خاوری اچوو.»

دماسونیزم نژدی هدفونه:

مأسونیزم د یوی داسی ډلی مسلك دی، چی دخپل دغه مسلك او فکر دخورولو له لاری په ټوله نړۍ باندی دحاکمیت لپاره په پټه کارکوي، غواړي چه دبشریت زیاتی ډلی خپل فکر او نظرته تسلیم کړي، پدی اساس لیکي:

«که هغوی زمونږ فکر او نظر ومني، نو دا زمونږ دخوشحالئ او آرامئ سبب دی.»

(موتمرالمشرق الاعظم الفرنسی - سنة ۱۹۲۲-۲٤۹مخ)

«مأسونیزم دټولو سیاسي احزابو بادار او رئیس دی، نه خادم او مزدور.»

(LE-REPUBLEQ

MACONIQU-3D-4/1882

«لس کاله وروسته به ماسونیزم ټول کارونه په خپل سر او خپله خوښه روانوي او هغه وخت به ئی په مخ کی هیڅ خنډ او مانع نه وي.»(نشرة المشرق الاعظم الفرنسی- سنة ۱۸۹۰-۵۰۰مخ)

«دماسونیزم د پیدایښت هدف دټولو مستبدو او ټرل شویو احزابو پر ضد مبارزه ده او دهمدی هدف دلاسته راوړلو پخاطر ماسونیان دجګړی په لومړي قطار کی جنګیږي، ځکه چه ماسونیزم یوازینی حزب دی، چه دټولو ادیانو، ملتونو، قومیتونو، عادتونو او رواجونو په کلکه مخالفت کوي.»

(مجلة اکاسیا الماسونیة الایطالیة - سنة ۱۹۰٤- ۲٥٦مخ)

دماسونزم لري هدفونه:

په (۱۷٤٤م کال) کی په یوه ماسونی بیان کی داسی راغلي وو: «زمونږ داتحاد له رمزونو څخه یو هم دیوه پټ عالمي دموکراتیك جمهوریت تأسیس دی».

په (۱۸۸۹م کال) کی یو بل ځای لیکل شوي وو:«دماسونیزم هدف لکه چه نیمه پیړۍ مخکی هم ښودل شوی ؤ، دیوه عالمي دموکراتیك جمهوریت جوړول دي، چه هغه په همدی اصولیت او نفعیت سره دماسوني اتحاد اساس ګرځي».

ماسونیزم او دین:

ماسونیزم دنورو مادي ایزمونو او مسلکونو په څیر ددین په هکله منفي او له دینمنئ نه ډك دریځ لري، ځکه چه ماسونیزم هم بی دینئ ته وده ورکوي، خوروي ئی او دټولو ادیانو پرضد دجنګ اعلان کوي.

ددی خبری داثبات دلایل دماسوني حرکت په زیاتو کتابونو کی موندل کیږي، همدارنګه ددوئ دمشرانو خبری او بیانونه هم ددی مدعابڼه ثبوت دی ، مونږ دلته له هغی جملی نه دبیلګی په توګه څوځونی وړاندی کوو:

مشهورماسونی لاف اج په (۱۸٦٥) کال کی دلیج دښار دمحصلینو په یوه کنفرانس کی له جرمني، اسپانیا، روسیی، انګلستان او فرانسی نه راغلو محصلینو ته په خطاب کی وویل:

«په کارده چه انسان په الله باندی غالب شی، دهغه پر ضد دجنګ اعلان وکړی او آسمانونه دیوه کاغذ په شان څیری کړي».

د۱۹۲۰م کال د«المحفل الماسونی الاکبر»کتاب په (۱۸۹) مخ کی لیکل شوي:«اتحاد دفخر لوړه پوړۍ ده، ژوندي دی وي هغه قهرمانان چه زمونږ په لومړنیو لیکوکی په مبارزه بوخت دي او ددنیا داصلاح هلی ځلی کوي».

همدارنگه په (مضابط مؤتمر بلګراد الماسوني- ۱۹۱۱م کال)کتاب کی لیکي:

«کوشش به کوو چه ډیر ژر په افرادو کی دضمیر دآزادئ روح قوي کړو او وروسی دبشریت دحقیقي دښمن(دین) په خلاف دشدید جنګ اعلان وکړو، څو په باطلو عقایدو او دهغوی په پیروانو بری ومومو او دا باید له یاده ونه باسو،چه مونږ ماسونیان ددین دښمنان یو. پدی اساس دارابانډی لازم دي، چه ددیني مظاهرو په له منځه وړلو کی هیڅ ډول سستي ونکړو».

یو بل فرانسوی ماسونی مشر په (۱۸۵۶)میلادي کال په یوه رسمی جریده کی ولیکل:«زمونږ د ماسونیانو او ادیانو ترمنځ جنګ حتمی دي، ځکه نو یاباید هغوی بریالی وی یامونږ، او دالازمی ده چه یا به هغوي نه وي او یا مونږ. ماسونیزم تر هغی پوری آرامی نشي لیدای، تر څو یی ټول معبدونه (عبادتخانی) نه وی تړلی او ورڅخه یی دفکر د آزادئ او د عقل دخدایی مرکزونه نه وی جوړ کړي.» په کال (۱۸۶۶) کی «الماسون» نومی جریدی ولیکل:«یوه ماسونی ته پکاردی چه پرالله(تعالی) باندی له هر ډول عقیدی نه ځان لوړ وساتئ»

ماسونیزم دنورو وضعی مکاتبو په څیر هیڅ ډول اخلاقی معیار او حدودوته قایل ندی، بلکه دجذب اودعوت وسیله او لومړنی مراحل یی همدغه بداخلاقی، فحشاء، نڅا، بربنډتوب، شراب خوری او نور دی .

«بوکه»نومی ماسونی په (۱۸۷۹) میلادي کال کی وویل:«ترهغه پوری پر دین نه شو برلاسی کیدای، څومو دښځی ملګر تیا نه وی حاصله کړی او هغه راسره په یوه لیکه کی نه وی ودریدلی»

په(۱۸۹۹) کال دبولونیا دکنفرانس ګډون کوونکو ویلی وو«پر مونږ- لازم دی، چه دښځی ملګرتیاحاصله کړو، هغه ورځ چه دهغی دمرستی لاس مونږ ته را اوږد شی، په هماغه ورځ مونږ خپل هدف ته رسیدلی یو اود دینونو دپلویانو لښکری به پری تار ومار کړو.»

د ماسونیزم یوبل مشر چه «دورفویل» نومیږی ویلی چه:«په طبیعی شریعت کی زنا کول ګناه نده،که بشریت په خپله طبیعی سادګئ کی پاتی شوی وای، نو ښځی به ټولی سره شریکی وی.»

«براقون»دخپل«رسوم ادخال النساءفی الماسونیة» نومی کتاب په (۲۲) او(۲۸) مخونو کی لیکی:«په مطلق ډول عفت دماسونیانو له نظره رټل شوی څیزدی، ځکه چه مطلق عفت د طبیعت مخالفت دی».

په یوه پټه نشر یه کی لیکی: «هیڅ باك نه کوو چه که پیغلی دقومی وطن په لارکی قربان کړو، هیڅ پروا نلری چه له هغه قوم سره معامله وکړو، چه پیغلی انتخابوی او ورته تسلیمیږی».

دا وی د «مشت نمونه خروار» په څیر څو بیلګی چه ددغه پلید او انسان دښمن مسلك مشرانو په خپلو لیکنو او اقوالو کی ظاهرکړی وی.

دماسونیزم تاثیرات په نړئ کی:

یهودانو دماسونیزم دپیدایښت له ورځی نه ددی کوښښ کړی چه له ماسونیزم څخه دنړئ دټولو هیوادو دواکمنانو او مشرانو دتسخیر او تسلیم لپاره کار واخلی اوددی هدف په لاسته راوړو کی تر ډیره حده پوری بریالی شوی هم دی اودنړئ ډیر پاچاهان او حاکمان یی دځان تابع ګرځولی دی، دمثال په توګه لاندینی پاچاهان دماسونیزم په حلقه کی راګیرشوی وو:

په(۱۱۵۰)میلادي کال کی د سکاټلیند پاچا دریم اسکندر،په (۱۱۶۰)میلادي کال کی قلب الاسد ریکادوس، په (۱۲۹۸)میلادي کال کی دانګستان پاچا څلورم هنری، په (۱۴۱۲) میلادي کال دانګستان پاچا پنځم هنری،په (۱۵۰۹)میلادي کال کی کردینال وولس استاد اعظم، په (۱۶۲۹)م کال کی

انګریزي فیلسوف باکون، په (۱۷۲۹)م کال کې انګریزي فیلسوف صموئیل کلارک، په(۱۷۳۸)م کال کې د روسیې ولی عهد فردریك ولیم، په (۱۷۸۵) میلادي کال کې د پاریس د پارلمان رئیس هریکورټ،په (۱۷۹۲)م کال کې دراسوچ پاچا دریم ګستاف، په(۱۷۹۹)میلادي کال کې د امریکائي جمهوریت مؤسس جورج واشنګټن، په (۱۸۰۳)م کال کې فرانسوی فیلسوف سان مارتن، په (۱۸۰٤)م کال کې د روسیې امپراطور سکندر، په (۱۸۱۰)میلادي کال کې دارسوج پاچا چارلس، په (۱۸۲۱)م کال کې مشهور الماني فیلسوف هیګل، په (۱۹۱٤)میلادي کال کې انګلستان پاچا لومړنی جورج،په (۱۹۲۵)م کال کې دانګلستان پاچا ادوادر، په (۱۹۵۵)م کال کې د انګلستان پاچا دوهم هنری.

همدارنګه دانګلستان پاچا پنځم جورج، دمصر پخوانی جمهور رئیس لومړی فاروق،دلبنان پخوانی جمهوررئیس شباره الخوری، دلبنان پخوانی صدراعظم سامی الصلح اودعربي نړۍاوسني زیات شمیر مشران او حاکمان دماسوني حرکت مهم غړي دي.

په انګریزانو باندې دیهودي ماسونیت تاثیر:

یهودیانو دماسوني تنظیم په ذریعه دانګلستان په اقتصاد، بانکونو، غټو شرکتونو، صنعتي دستګاؤ اوزراعتي محکمو باندې تسلط پیداکړ او دهغوی دبلهنګونو ملکیت یې دځان په نامه کړ او اصلي مالکان یې په قرضونو کې غرق اوفائدې یې یهودو واخیستې. او دانګلستان ډیر امیران او دسنا مشران ددوی دشفقت تر احسان لاندې راغلل، حتی چه یهودو یې لورګانی په نکاح کړې. او خپلې لورګانی یې دوی ته ورکړې او دمشرۍ القاب یې ورځخه واخیستل او ډیریې پخپله دسنا مشران شول او غټ غټ منصبونه یې تر لاسه کړل. په (۱۹۲۲)م کال یهودوپه برطانیا کې (۲٦)تنه (غټ کسان)،(٦)تنه مستشاران دملکي په قصرکې او(٦) تنه یې دبلد یې په شوراکې درلودل چي دا شمیر زرګونو لیکوالو او ادیبانو او د ورځپاڼو له خاوندانو ځخه پرته وو.

هغه وخت چه انګریزانو په هند باندې حکومت کاوه.(۳)تنه یهودان یې دپاچا دنائب مقام ته رسیدلي وو.

د«المفسرون فی الارض» د کتاب لیکونکی «البیرپاچا» چه د ملکې «فکتوریا» میړه دي وائی چه دبریطانیا هرامیر به د یهودو غیر شرعي ځوی ؤ.

په (۱۷۳۸)م کال کې د بریطانیا ولی عهد «ماسوني » ؤ او پاچا « جورج اول» دلمړی ماسوني تحریك دمجلس رئیس ؤ. نو عجیبه نده چه دبریطانیا ملت او دپارلمان مشران او دپارټیو مشران او وزیران دې دیهودو لپاره ماتحت واوسیږي او که څوك یې مخالف وي، نو دماسونیت پټه قوه مکلفه ده چه هغه یا تابع او یاختم کړي.

(اوفرانسه)هم د ماسونیت تر تاثیر لاندې ده.د محفل شرق اعضاء چه په فرانسه کې دماسونیت یو شاخ دی، دوه نیم لکه کسانوته رسیږي، دمعلوماتو له مخې دفرانسي انقلاب چه شاهي نظام یې له منځه یوړ اوددین په خلاف ئې هم جنګ وکړ اودعلمانیت(بې دینۍ) عملبردارهم ؤ، دماسونیت له خواطرح شوی ؤ،چه له انقلاب ځخه سمدستي وروسته «لیون بلوم» ماسوني دصدر اعظمۍ مقام ته ورسید. دغه خبیث دهر قسم فجور او «اباحیت» لپاره نشریات کول، او د« ازدواج» په باره کې یې یو کتاب لیکلی ؤ، چه په جنسي کتابونو کې ډیر بد کتاب دی، ځکه چه هغه په دغه کتاب کي فسق او زناته دعوت ورکړي داکتاب یوازي په فرانسه کي اوه ملیونه جلده خرخ شو او ماسونیانو دغه کتاب په مختلفو ژبو ترجمه کړ، په دغه کتاب کې پیغلوته ویل شوی،چه کله دوی دپیغلتوب سن ته رسیږي ، باید په ډیر جرأت سره ځان خپلو ملګروته تقدیم کړي او هیڅ قسم حیاء ونه کړي.

امریکایا دماسونیت مرکز:

په روانه پیړۍ کی ماسونیانو دنړۍ په یو غټ هیواد یعنی امریکا باندی هم سلطه پیداکړی او ددغه هیواد په داخلی او خارجی سیاست باندی یی پوره تاثیر کړی اودامریکی ملت یی هم هاغسی ترلی لکه دانگلیس ملت نی چه ترلی ؤ اودامریکی جمهور رئیسان او دسیاست، او جنگ او اداری غټ مشران تری جوړ شوی دی، چه دیهودو تر نفوذ لاندی دی، د چا زړه ته چه دابنه ښکاره شی، چه له دوی څخه ځان لیری وساتی،نو دهغه انجام دادی چه دهغه شهرت به بدنامیزی، یابه وژل کیزی او یابه له ټولی کورنۍ سره له منځه ځی.

د امریکاډیر آزادی خوښوونکی پوهان، ښاریان او مفکرین له یهودو سره د مخالفت په وجه له منځه تللی ، خو سره له دی هم هغو کسانو چه له خپل وطن سره اخلاص لری، ډیر نشریات کړی او خلك یی له دی څخه ویرولی دی چه امریکا دی دهمیش لپاره د یهودو تابع اوسی.

دماسونیت طبقات:

یهودانو ماسونیت په دری طبقو او ۳۳دری دیرش درجو تقسیم کړی، چه په لاندی ډول دی:

لمړۍ طبقه:دغی طبقی ته«الرمزیة الابتدائیه» وائی، چه ددغی طبقی اعضاء باید مختلف مراحل تیر کړی.

په دوی ډیر سخت او دقیق امتحانونه تیروی او مختلفی تجربی پری کوی، چه دا کار څو کلونه غواړی او هغه قسم(سوگند) درباندی خوری، چه مخکی تیر شو.

دوهمه طبقه:

داطبقه (شاهی ماسونیان) دی.

په دغه طبقه کی صرف یهود او ددوی خاص دوستان شامل دی اودغه کسان د(۳۳)درجی څخه غوره کیږی. کومه درجه چه له هغی څخه د یهودو مشران انتخابیږی.

دریمه طبقه:دا طبقه د«الماسونیة الکونیة» په نامه یادیزی، چه دا اوچته طبقه ده او ټول افرادنی یهود دی او په ټوله نړۍ کی دماسونی محافلو واك ددوی په لاس کی دی، دوی دپاچاهانوڅخه هم اوچت دی ، ځکه چه دوی (المأ سونیة الکونیة) په هغو حکمروائی کوی اودخپلو کسانو په منځ کی یی راگیر کړی وی.دغه طبقه خپل ځان ته خاص او سری گارډ لری ، خادمانی او خادمان لری، دشاوخوا کسان لری . اکثره وزیران او دپوځ سر لښکرئی له همدی طبقی څخه وی. دصهیونیزم ټول لیډران چه مأ سونیان دی، په همدغه طبقه کی دی چه پدی کی بیا غیر یهودی ته دچوکۍ دتر لاسه کولو هیڅ امکان نه وی.

«هرتزل» چه دیهودیت پلار گڼل کیږی، له همدغی طبقی څخه دی.او دا ئي روښانه کړی، چه دصهیو نیزم مشرانو په بیت المقدس کی دیو محفل په ترځ کی ډیر شمیر قرار دادونه امضاءکړی دی.

په بین المللی محافلو کی دماسونیت نفوذ:

دملگروملتوعمومی ټولنه او همدارنگه نوری مؤسسی لکه یونیسکو او نوری هم په ماسونیت ککړی دی. په آخره کی لازمه ده، چه د ماسونیت تخریبی لاس غزونو ته اشاره وکړو.په روسیه کی دقیصری دولت په له منځه وړلو کی د یهودو دماسونیت لاس ؤ او د هغه(مارکسیزم) سره یی کمك وکړ چه دهغه په نتیجه کی اسلامی ملکونه لکه قوقاز، اورال، ترکستان اوحاج صابری، چه اوس ورته «سایبریا» وایی لاندی کړی شول، او همدارنگه یی دعثمانی دولت په له منځه وړلو کی لاس درلود او په فلسطین باندی یی په زورقبضه وکړه او خلك یی ورڅخه په زور وویستل اوداکوښښ کوی چه مسجد اقصی له منځه یوسی اوددی کار لپاره یی یوه یهود ی ټولنه جوړه کړه، چه مسجد اقصی وغورزوی.الله جل جلاله دی ددوی آرزوگانی شنډی کړی او اسلامی امت ته دی الله تعالی په جهاد سره صبر ورکړی.(والله غالب علی امره ولکن اکثر الناس لایعلمون)

شهادت دې مبارک شه!

شهزادګل «شینواری»

داسلام ستر مجاهده! سلامونه درلیږم
شهادت دې مبارک شه! پیغامونه درلیږم

خپل مرام کې ته کامیاب شوې،دمقصد پړاوډې طې کړ ✤ ستر منزل ته رسیدنه شوې، چه دې زړه وربانډې سوې کړ

اسلامي بیرغ رپاند شوې، مثالونه درلیږم
شهادت دې مبارک شه!پیغامونه درلیږم

داسـلام دفاع دې وکړه، دجهاد په سنګروکې ✤ ته باني دانقلاب وې، دکـرپه دنګو غروکې

قرباني دې بې بهاوه، مشعلونه درلیږم
شهادت دې مبارک شه! پیغامونه درلیږم

دکـنړ دلوړو غرونه، انـقلاب څپې خپرې شـوې ✤ سرې سپرغۍ شولې ملحد ته، په هرلور باندې ذرې شوې

رهبري وه ستا په غاړه،رحمتونه درلیږم
شهادت دې مبارک شه! پیغامونه درلیږم

دجهاد دباب په څنګ کې، سخاوت دې هم پیشه وه ✤ محتاجان دې تـهول پاللي، ددې باب ښکلې حاشه وه

کونډې رنډې دعا ګودي، ثوابونه درلیږم
شهادت دې مبارک شه! پیغامونه درلیږم

مرګې حق دې خلاصون نشته، یو په بل پسې روان یو ✤ مرګ پیدا زمونږ لپاره، مونږ پابند ددې کاروان یو

خدایږو هیڅ کولاې نشو،تش آهونه درلیږم
شهادت دې مبارک شه! پیغامونه درلیږم

ستا دقـتل په سازش کې، هر بزدله چه ککـړ وي ✤ په قیامت کې به رسـوا وي، شرمیـدلې هم به پړوي

په دارنګه بزدلانو، لعنتونه درلیږم
شهادت دې مبارک شه! پیغامونه درلیږم

رهبري دې تعقیب کیږي، ستا په پل باندې به درومو ✤ دقـرآن او حدیـث لارده، کامیابـې به پکې مومو

عملي ګامونه اخلو، باورونه درلیـږم
شهادت دې مبارک شه! پیغامونه درلیږم

مونږ داسلامي إمارت متعهدين دمفكر اسلام، امام الجهاد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) پاليسى قدم په قدم تعقيبوو

الحمد لله وصلوة والسلام على رسول الله اما بعد:

اعوذبالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

«قاتلو هم يعذبهم الله بايديكم ويخزهم وينصركم عليهم ويشف صدور قوم مؤمنين»

مفهوم:-

دكفارو اوبى دينانو سره قتال ته ادامه ورکړئ. دى كفا روته الله تعالى ستا سى په لاس عذاب ورکوي.او الله تعالى به داكفره رسوا او شرمنده كړي.

تاسى سره الله تعالى ددوى په خلاف كومك او نصرت كوي.

او دمؤمنانو زړونه اوسينى به په دوى يخى كړي.

«وقاتلوهم حتى لاتكون فتنة ويكون الدين كله لله»

مفهوم:

دكفاروابى دينانو سره تر هغى قتال جاري وساتئ، چه ترڅو دكفر او بى دينۍ ټو ل اثرات نه وى ختم شوي او بلكه دتل لپاره دبى دينۍ احتمالات ختم شي.

ټول اجتما عى، انفرادي امورات او اجرات خالص دالله تعالى داصولو په تابعدارۍ سره عملى شى. (خالص دالله ددين پوره پيروي وشي.)

مونږ داسلامي إمارت ټول متعهدين بلكه داسلامي امارت فرد فرد دقرآن دحكم په استناد او درسول الله «صلى الله عليه وسلم» دارشاداتو په تائيد په جهاد پيل كړيدى. نوهمدارنگه زمونږ دجهاد اختتام به هم دقرآن او نبوي ارشاداتو په حكم صورت نيسي. مونږ په دى خبره دخپل تعهد تجديد كوو.كنړ د افغانستان دمجاهدينو دتربيى لومړنى تعليمي مدرسه او مركزۇ په افغانستان كى چه څومره قهرمان او زړور قوماندانان او مجاهدين تير شوي او يا اوس موجود دي، دهر ولايت سره چه تعلق لري هغه دكنړ په غرنۍ جهادي مدرسه كى روزل شوي اوبيا خپلو ولاياتو ته ليږل شويدي. فلهذا:

دكنړ مجاهدين دافغانستان دجهاد سر لښكر دجهاد دتربيوي ادارى متخصصين ددى جوگه شول، چه دكنړ دآزادۍ نه پس ئى په كنړ كى دجهاد ارمان او ستر هدف اسلامى نظام داسلامى امارت په نوم قايم كړ. او دا د افتخارنه ډك مثال مفكر اسلام امام

الجهاد شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دافغانستان په تاریخ کښی وګا ته، مونږ دکنړ ټول مجاهدین دشهید شیخ په ابتکاراتو افتخارکوو. مونږ داسلامي امارت متعهدین خپل دریغ په لاندی ډول اعلانوو:

۱- مونږ دمفکراسلام امام الجهادشیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) پالیسي اومشن قدم په قدم تعقیبوو.

۲- مونږ دهغه جهادی تنظیمونونه چه په افغانستان کی واقعاً اسلامي حکومت غواړي، فوراً د یوه کامل اسلامي وحدت غوښتنه کوو.او مطالبه لرو چه د قیداو شرط نه غیر په خپل منځ کی وحدت قایم او دافغانانو د(١٤) کلن جهاد او د (١٤)کالود هجرت د دردونو او کړاونو داسلامی نتائجو په لاس راوړلو کی دي جدي توجه وکړي.

یوه اسلامي طرحه دی په توافق سره جوړه کړي، چه د یوی خوا روانی بین المللی توطنی شنډی او د بلی خوا زمونږ دیونیم ملیون شهیدانو ارمان پوره شي. چه هغه سوچه اسلامي حکومت دی، قایم شي.

۳- دافغانستان په راتلونکی نظام اوحکومت کی باید قرآن او حدیث دفیصلی لومړنی مرجع او د هیواد په ټولو اداري، سیاسي، نظامي، اقتصادي او اجتماعي چارو باندی حاکم وي.

٤- هغه کسان چه د(١٤)کالو جهاد په دوران کی دافغان ولس اسلامي عقیدی،بلکه د افغانی غیرت په خلاف د روسانو داسارت دلاندی حکومت کی برخه اخستلي وي او ددغه حکومت سره موافق او همنظر پاتی شوی وي، هغه ملي خاین او عقیدوي منحرف دی، په هیڅ صورت په آینده حکومت کی په هیڅ عنوان برخه نشي اخستلی.

٥- هغه تنظیمونه چه دافغانستان دمجاهد ولس د اسلامي عقیدی سره برابر نه وي اود غیر اسلامي ملکونو سره فکری او سیاسي روابط لري او د افغانستان استقلال او اسلامي هویت ته ورځخه خطر وي، غیر قانوني ګنو. په هیڅ صورت به د فعالیت اجازه ورنکړو.

دغه تنظیم پوری مربوط افراد په راتلونکی حکومت کی په هیڅ عنوان نه شي داخلیدلی.

٦- مونږ دملل متحد او دنړدی غمشریکه ګاونډي دولتونو څخه په کلکه غوښتنه کووچه:دمجاهدینو او دجهاد د روحیی او مزاج خلاف حکومت په مونږ تحمیل نه کړي.

۷-هر هغه حکومت چه دمجاهدینو دتوافق اومشوری نه په غیر په مجاهدینو باندی دبهرنیو قدرتونو دفشار اوسازش په نتیجه کی تحملیږی، هغه به دمنلو وړ نه وي، بلکه هغه مردود دی.

۸-مونږ دملل متحد څخه په کلکه غوښتنه کوو، چه دالجزائر غیر قانوني حکومت ظالمانه اقدامات دی فوراً بند کړي.او د الجزائر مجاهد ولس ته دی دحکومت جوړولو او خود ارادیت حق ورکړل شي.مونږ دالجزائر دمسلمانانو دقانوني حقوقو دغوښتنی د داعیی په کلکه ملاتړ کوو او ددوی په خلاف ظالمانه اقدامات په کلکه محکوموو.

۹-مونږ دکشمیر دآزادیخوا مسلمانو ورونو دآزادئ او استقلال مبارزه او جهاد په کلکه تائیدوو او د ملل متحد څخه غوښتنه کوو، چه دکشمیر ورونو ته دی دخپل سرنوشت دټاکلو حق ورکړی شی او دهندوانو ظلم او استبداد دکشمیر په ورونو په محکوموو.

۱۰- مونږه د فلسطین دمجاهدینو د برحقی مبارزی ملاتړ کوو. او د اسرائیلو د ظالمانه اقداماتو دبندیدلو غوښتنه کوو.

۱۱- مونږ دبرماپه مسلمانانو دهغو دعسکري حکومت دظلم دختمی غوښتونکي یو.

په پورته مسایلو کی ملل متحد او نور ذیدخله باصلاحیته خواوی باید د بشری حقوقو په مراعات او احترام سره فوري او جدي توجه وکړی.

لنډ داستان

بوټان

د لعل محمد«افسوس» لیکنه

اسد دخالد مشر ورور ؤ،دا دواړه ورونه دپلار له عظیم نعمت څخه هغه وخت بی برخی شول،چه کله دهجرت کډی باریدلی. داسد اوخالد پلار له ډیری مودی اوږده ناروغی درلوده او ددوی اقتصادي وضعی دانه ایجابوله، چه د پلار علاج او تداوي څنګه چه لازمه ده وکړی، ځکه خالد اواسد په تنکو ځوانو یوازی دومره کوله چه خپلی بوډۍ مور او دوه ورونو خویندو ته دهمغی ورځی نفقه پیدا کړي او قوت لایموت پری وکړی. اخر داچه دوخت نادودو او دظلم او وحشت خاوندانو ورته دناترسه بمباریو له امله دهجرت کډه ورپه سر کړه.

که له یوی خوا دسره استعمار دګولیو او توپونو باران وریده، نو له بلی خوا دژمی واورو هم خپل زوربښکاره کاوه او چه نن نه وریږی نو کله.

اسد او خالد به خپل ضعیف الحاله پلار په منډه منډه تر یوځایه ورساوه، بیا به ئی دبوډۍ مور او ماشومانو خویندو غم کاوه او له لاسه به ئی نیولی دپلار تر ځایه به ئی په ویره ویره ورسولی،څو څو ځله ئی داعمل تکرار کړ، مګر ضعیف پلار ئی دژمی دډیری سختی یخنۍ اودظلم او نارواؤ داصحنه نوره په خپل ضعیف تن ونه زغملای شوه اوپه مات آواز ئی ایله دومره وویل:چه ما چیری تر یو سرپټی منډوه ورسوۍ او نور دخپل خلاصون کوښښ وکړۍ! زما په سر خپل ځانونه مه وژنۍ، زه هسی هم د پاتی کیدو نه یم! بیا یی دشهادت کلمه ایله درسته کړه او تر منډوه هم په ژوندینی ونه رسید او له فانی دنیایی ترټوله عمره سترګی پټی کړی.......!

داسد مور او وړی خویندی ډیری ژړیدلی، مګر هیڅ یی نه شو کولی، خو اسد چه په تنکۍ ځوانۍ یی الله تعالی دصبر او تحمل لویه برخه نصیب کړی وه، خپل وړور خالد، مور او وړو خویندو ته اوښکی وچی کړی او ډیر داډ یی ورکړ او ورته ویی ویل:چه دا زمونږ دټولو برحقه او منلی لارده.مونږ ټول په دی لار روان یو، څوك مخکی او څوك وروسته.

پرېږدئ مورې! چه بابا مې له دې سختو څخه په آرام شو.

داسد مور په جنازه خپل پړونی خورکړ اوپه همدغه منډوکی ئی دالله تعالی دربارته وسپاره.او دوی دهجرت لارونیوله او پاکستان ته مهاجر شول.هلته یی دکېږدو'په یوه کلی کی هستوګنه اختیار کړه. ډېره موده تیره شوه، داسد هم په ژوند دځوانئ پسرلی ښه راخور شوی ؤ او دخالد هم.

څوځو ځلی چه مجاهدین به دجهاد لپاره سنګر ته تلل، اسد به هم دخپلو مجاهدینو شازلمو وررونو سره جهاد ته روان شو. دجهاد ډیری دوری یی دخپلو ملګرو سره تیری کړی او بیا به یی دخپلی مور ربښتینی مینی ته ځان راورساوه.

ګوزاره یی ډیره خرابه او هر وخت به ئی ورته د ارمانونو سینه چیچله...!

یوه ورځ چه دخالد بوټونه ډیر زاړه شوي وو او له استفادی نه وتلی وو، نو مشر ورور اسد ته ئی وویل: چه لالا! زمابوټونه ډیر زاړه شوي دي او نور هیڅ دکارنه دي، که کولی شی. نو ماته یوه جوړه بوټونه واخله!

د اسد په جیب کی ایله لس دولس روپئ وی، چه په هغی بوټان نه اخستل کیدل.نو د ورور دا ضرورت او آرمان ئی په زړه داغ پاتی شو.نور ئی هیڅ ونه ویل او مور ته ئی یوازی دومره وویل:چه مورې! مونږ ډیر بی ټکوره یو او دلته هم څه مزدوري نشته، نو که ماته اجازت وي، زما څه ملګري دمزدورئ لپاره کراچئ ته ځي، زه به هم ورسره لاړشم، چه څه غریبي وکړم او خپلی کړمی به پری هواری کړو! مور ئی رخصت نه ورکاوه، مګر وروسته له ډیر عذر او زارئ ئی په نیم زړه رخصت کړ.

په کراچئ کی ددری څلورو میاشتو له تیرولو څخه وروسته ئی د کور نیت وکړ اودکور دضرورت وړ سامانونو سره سره ئی دخپل وررور خالد لپاره یوه جوړه بوټان هم واخستل او کورته راروان شو. کله چه کورته راورسید، دخوشحالئ نه ئی له ځیری مسکا بریښیدله، کورته لاڅو قدمه لاړ وه چه خپلو ماشومانو خویندو ئی بیدیا لوبی کولی. چه ویی لیده نو منډی ئی کړی او مور ئی خبر کړه، چه هله مورې! اسد لالا مې راغی. مورئی مخی ته راووته او له ښکلولو نه وروسته ئی تری غوټی واخیستی او کورته ننوتل. کله چه اسد خالد په کټ کی پروت ولید او راپانه ځیده او په ملاستی ئی دورور سره ستړي مشي وکړل، اسد له موره تپوس وکړ، چه په خالد څه شوي دي! مور ئی په لنډه ساه چه خالد لمړی څه ونه وائی، وویل: چه دده تبه ده. اوطبیب ورته ویلي دي چه له برستنی څخه به ځان نه ښکاره کوی، چه خوله شي.وروسته دلږ ساعت دمی څخه اسد خورته اواز کړ، چه دغه غوټه راوړه! چه وه ئی سپړم! خور ئی غوټه ورکړه او خالد ته ئی تري ډیر ښکلی بوټان راوویستل.په دی وخت کی داسد مور،خالداو خویندی یي په ژړاشوی او خالد ورته په ژړغونی آواز وویل: لالا! مخکی چه پښی وی، بوټان نه وو. او اوس چه بوټان شته، نو زما پښی....هو:دهغه دواړه پښی دهغه بم خوراك شوی وی چه روسی یرغلګرانو دمجاهدینو دتګ راتګ په لاره کی ځای په ځای کړی وو.

دکنړ ولایت دعمومي قوماندانانو

دشورا تصویب

دکنړ دولایت دکاملی فتح او آزادی نه وروسته چه دحزب اسلامی او جماعت الدعوة او یاعبوری اسلامی حکومت ترمنځ ځینی حادثات او اختلافات منځ ته راغلی دی، پدغو موضوعاتو کښی د۱۳۷۰هـ ش دحوت دمیاشتی په دولسمه نیټه ددوشنی په ورځ دکنړ دولایت دټولو حاضره قومندانانو ورونو رائی او اظهارنظر په قاطع اکثریت سره داسی تصویب وشو.چه ددری فریقو یعنی دری ادارو څخه دوه دوه مسئول او باصلاحیته اشخاص توظیف شی چه دکنړ پورتنیو دمسائلو حل وفصل لپاره طرح ترتیب کړی چه دمسائلو دحل وفصل دطرحی لپاره لاندنی کسان توظیف اوتعین شول:

۱- ښاغلی حاجی محمد علی(رحمانی)

۲- ښاغلی حضرت الرحمن

۳- ښاغلی انجنیر وحید الله(صباؤن)

٤- ښاغلی مولوی محمد هاشم خان

٥- ښاغلی حاجی روح الله خان

٦- ښاغلی مولوی عبد البصیرخان

مونږ دکنړ دولایت ټولو قوماندانانو پورتنو شپږومشرانوته کاملاً اختیارات او واك ورکړ چه د(حمل تر پنځلسمی)نیټی پوری دکنړ دولایت دتیر و واقعاتو دحل وفصل په هکله طرح منځ ته راولی او مونږ ته اطمینان ابلاغ کړی که نو موړی په ټاکلی موده کښی په مسائلو کامیاب نشول او یاپه موجوده وخت کښی ورته لازم ښکاره شی چه دکنړ نورو جهادی قوتونو او قومی مشرانو او علماؤ ته اختیارات ورکړی چه پدغه ذکر شوی قضیه کی قاطع او اسا سی پر یکړه وکړی او یا که نوموړوته دنورو کومو ورونو دشمولیت اومشوری ضرورت احساس شی هم واك لری.چه دلوی الله تعالی په فضل سره دکنړ ټول ورونه او جهادی قوتونه په وحدت او اخلاص سره ژوند وکړی شی.

ومن الله التوفیق.

۱۳۷۰/۱۲/۱۲

الشيخ جميل الرحمن (رحمه الله) ته

دكنړ دغــرو زمريـه، سـلفيتۍ دا ستالاره
شيخ جميله مجاهده! دافغان جـهاد ســالاره

وزی تـزی لــوړو غـرو کی،ملحدانــو ته بــيتاب وی
عملی قـدم دی واخـيست مؤســـس دانـــقلاب وی
دتوحيد دبڼ طوطی وی علميت کی لوی درياب وی

دجنت حوری ولاړی، استقبال ته ستا لپاره
شيخ جميله مجاهدۀ! دافغان جهاد ســالاره

ته دحق په مقابـل کی، دهـر څه څـنی ورتيـر وی
ستا كلك عزم اراده وه، په جرئت کی لکه شير وی
دباطل په مقابـل کی، جوهرداره تيز شمـشير وی

أخر لاړی له دنيانه، ددښمن دسترګو څاره
شيخ جميلہ مجاهده! دافغان جهاد سالاره

دافغان په هر يوكـوركی، نن ماتم جـوړه غوغاده
«سل دی ومري يو دی نه مري» ، دمشرانو داوينا ده
په دښمـــن دی نن اختر دی،ددوســـتانو دی ژړاده

ستاپه مرګ باندی شهيده، ماژړلی تر سهاره
شيخ جميله مجاهده! دافغان جهاد ســالاره

داخاصه دانـــقلاب ده، چه خوراك يی خپل بـچي وي
ډير ځوانان همداسی سوزی، په همدی اور کی ستی وي
توطـــيودی ډيرخـوړلی، په کـــی دالويـه پستی وي
ته دلوړ همت خاوند وی، ننګياليه باوقاره
شيخ جميله مجاهده! دافغان جهاد سالاره

بدبختي نــفاق زيات شـوی، هر يـودی دبل په سپکه
سړی کومی خواته لاړ شي، پاس آسمان دی لاندی ځمکه
دی حـــالاتو ليــونی کـړو کافو لام کــړه لاره ورکه
انقلاب په تا ميرات شو، دجهاد كاروا ن سرداره
شيخ جميله مجاهــده! دافــغان جهاد سالاره

د جلوزو د کیمپ د اهل حدیثو په مرکزی جامع مسجد کی د تنظیم طلبه سلفیه غونډه

دجلوزو دکیمپ د اهل حدیثو په مرکزی جامع مسجد کی د تنظیم طلبه سلفیه ترنظارت لاندی یوه درنده غونډه وشوه.

غونډه دکلام پاك په تلاوت سره پیل شوه،وروسته دغونډی افتتاحی وینا وروسعدالله «محمدی» واوروله او وئی ویل:چی زمونږ دی ځای ته دراتوليدلو مقصداوغایه دشهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)مشن جاری ساتل او دشهید قاتلان په دی خبره پوهول دي، چی دوی به په خپل شوم مقصد کی هیڅ وخت هم بریالي نشی،ځکه چی شیخ داسی ځوانان روزلي دی، چی هر یو داسلام داعتلأ لپاره دسر او مال قربانۍ ته حاضر دي، دغه ځوانان دتنظیم طلبه سلفیه مجاهدین دي، چه اوس په هر میدان کی دشهید مشرمشن جاری ساتل غواړی او دشیخ په شهادت افتخار کوي او وایی چه دا زمونږ د اسلافو لار ده له افتتاحی وینا ځخه وروسته مولوی صاحب عبدالقدیر «بدخشانی» د شهید شیخ د شهادت په غمناکه واقعه اوږدی خبری وکړی.

وروسته مولوی صاحب فاروق د جامعة الدعوة استاد په خپله علمی وینا کی طلبه ؤ ته توصیه وکړه، چه دخپل شهید مشر په قدم روان وی او دالله تعالی په لار کی هر ډول قربانۍ ته تیار اوملاتړلی اوسی.

وروسته د دی ځخه ورور حمیدالدین «بدخشانی» د اسلامي امارت د تاسیس او د کونړ په سیمه کی د اسلامی شریعت د انفاذ په باب اوږده وینا وکړه.

وروسته هر یو ورور احمدشاه، ورور عبدالرحمن په خپلو بیانو کی د شهید شیخ هغه کارنامی بیان کړی، چه ددښمن لپاره د زغملو ورنه وی او بالاخره د شیخ دشهادت سبب وګرځيدلی،هغوی له طلبه ؤ ځخه داتحاد او اتفاق دټینګښت غوښتنه وکړه.

دغونډی په پای کی مولوی صاحب احمد سعیددجامعة الدعوة استاد دحق د داعیانو د کامیابۍ لپاره دعا وکړه.

له غونډی ځخه وروسته دتبلیغ د ژوندیو کارنامو په باب یو دستاویزی فلم هم حاضرینو ته وښودل شو.

د لیکونو بهیر



دعوت

پوست بکس:٦١٤-پېښور-پاکستان

د باجوړایجنسۍ د ډمه ډولی ددوهم نمبر کیمپ څخه محمد ولی«امین» وروړلیکی:

د دعوت مجلی محترم مدیر اونورو کار کوونکو!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

ورونو: له هرڅه مخکی د لایزال الله نه ددعوت مجلی دترقۍ سوال کوم او همدارنګه ستاسو دکامیابۍ غوښتونکی یم، چه الله تعالی مو پخپل موقف کی کامیاب اوبریالی لره!

زه څو وړاندیزونه درلیږم، هیله ده چه غور پری وکړئ:

١-د دعوت مجلی لپاره نورهم خپل کوششونه زیات کړئ او ماهانه یی کیمپونو ته ورسوئ.

٢-په دعوت مجله کی دسلفي عقیدی اظهار ته زیاته توجه ورکړئ اوددی عقیدی دمخالفینو په مقابل کی تحریري مقابله داسی وکړئ لکه څنګه چه هغوی زمونږ دعقیدی خلاف نشریی کوي.

والسلام!

دجامعه تفهیم القرآن مردان نه محمد نادرشاه ورور لیکی:

د دعوت مجلی سر محرر او نورو کار کوونکو !

السلا م علیکم ورحمت الله وبرکاته

له هر څه مخکی ددعوت مجلی په ښکلا اوکامیابۍ تاسی ټولو کارکوونکو ته دزړه له کومی مبارکی وایم.

ددعوت مجله هغو کسانو ته چه دتوحید دوړانګو څخه بی برخی پاتي دي، دتوحید درس ورکوي. ددی سره سره دبی وزلو او مظلومو افغانانو آواز اودجهاد اصلی واقعیتونه دنړۍ ګوټ ګوټ ته رسوی. زما پیشنهاد دادی چه دپاکستان د نامورو علماؤ او سیاست پوهانو مرکی که نشر کړئ نودابه ددعوت مجلی دلا زیاتی ښکلا سبب شی. او همدارنګه داسلامي امارت دقائدینو دبیانیو په نشرولو کی زیات کوښښ وکړئ.

«په درناوی»

دکنړونو داسلامی امارت ددعوت اوارشاد له ریاست څخه امیر سلام «فانی»وروړلیکی:

محترمو ددعوت مجلی کارکوونکو!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

ددعوت مجلې له مضامينو څخه دتوحيد وړانگې خپريږي او دافغانستان دمجاهد ولس دآرمانونو پوازينې انعکاس دی. الله تعالی دی دامجله داسلام دخدمت لپاره نوره هم دترقۍ په لور روانه کړي، چه دافغانستان دمظلوم اولس دحقه حقوقو ريښتينی ترجمانه شي.

والسلام

ستاسی ورور امير سلام«فانی»

محترم ددعوت مجلې مدير اونورو همکارو ملگرو!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

اول تر اوله ددعوت مجلې په ترقۍ تاسی ټولوته مبارکي وايم، الله جل جلاله مو ددعوت په کارکی مو فق او بريالی لره!

ددعوت مجلې مضامين چه لولم ۶ ددين پوهنې لپاره وربآندی خپله تنده ماتوم، داځکه چه په مضامينو کی يې ډيری اسلامی لارښوونی وی.

والسلام

حسن ولی دجلوزو له کيمپ څخه.

دجلوزو له کيمپ څخه قاری عبدالستار ليکی:

محترم ددعوت مجلې مدير او نوروکارکوونکو!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

له هر څه دمخه مو ستاسی روغ صحت آرزو ده.

محترمو:ستاسی نشرات ډير دقدر وړ دی. ځکه چه تاسی دريښتينی سلفی عقيدی دخپرولو کوښښ کوئ. مونږ يوه گيله لرو اوهغه داچه دعوت مجله دلته دجلوزو کيمپ ته په ډير کم تعداد رارسيږي، نوځرنگه چه ددی مجلې لوستونکی اوشايقين دلته ډير زيات دی، نو هيله مند يو چه زمونږ دا غوښتنه به پوره کړئ.

والسلام

قاری عبدالستار

ښاغلی ددعوت مجلې سر محرر صاحب !

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

له هرڅه مخکی ددعوت مجلې په ترقۍ اوکاميابۍ دزړه له کومی خوشحالی ښکاره کوم، رب العزت دی دامجله په ټول عالم اسلام کی دسلفی عقيدی دخپرولو په لور نوره هم چټکه اوگړندۍ کړي.

والسلام

طالب العلم نقيب الله«مطمين» دجلوزو له کيمپ څخه.

ددعوت دمجلی محترم مدیر!

غواړو ستاسو دمجلی له لاری یوه مهمه موضوع خپلو مسلمانانو ورونو ته ورسوم.

څرنگه چه مونږ مسلمانان یو او دمسلمان هرکار باید داسلامي اصولو مطابق وي، نو ماهم خپل داخط دلمانځه دعبادت په باب ولیکه. چه په اسلامی عباداتو کی لومړی مقام لری اودبشریت لاربنود ورته داسلام ستن ویلی ده ،چه هغه لمونځ دی.مونږ او تاسی په خپله ټولنه کی اکثراً گوروچه زمونږ ورونه خصوصاً افغانان ورونه عادت لری چه په لمو نځ کی ډیره جلتی وکړی اود ارکانو تعدیل ته هیڅ توجه نه کوی،قومه او جلسه نی هیڅ معلومه نه وی چه زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم دی کارته د لمانځه غلا ویلی او فرمائلی نی دی چه: «بدترینه غلا له لمانځه څخه غلاده» صحابه ؤ رضی الله عنهم پوښتنه وکړه چه دلمانځه څخه څنگه غلا کیدای شی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه داچه نه نی رکوع پوره اداء کوی او نه نی سجده».

یعنی په کوم ترتیب چه باید رکوع وشی هغه شانته نی نه کوی او په کوم ترتیب چه باید سجده وشی، په هغه شانته نی نه کوی.

پکار خو داده چه کله سړی رکوع وکړی اودرکوع څخه اوچت شی ښه پوره ودریږی چه هر بند خپل ځای ته ورشی.

او همدارنگه چه سړی د سجدی څخه سر او چت کړی باید ښه کښینی او بیا بلی سجدی ته لاړشی صحابه رضی الله تعالی عنهم فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به کلهٔ سجدی څخه کښیناست داسی فکر نه کیده چه دی به بیا سجدی ته ځي.

که چیري دنن ورځي دمعاصری نړۍ په اختراعاتو کي دمسلمانانو عظیمی او گټوری اختراع یعنی ساعت ته زیرشو،نو دحدیث شریف مطلب ښه پوره واضح کیدلای شی اوهغه دا چه دوخت معیار معلوم شو نو هغه څوك چه په لمانځه کی جلتی کوی اوژر ژرنی اداءکوی نو هغه څو دقیقی وخت چه دی نی باید په لمانځه کی پوره تیر کړی، هغه دلمانځه څخه سپما کوی او په خپلو دنیانی کارونو کی یی تیروی. چه په حقیقت کی دغه سړی دلمانځه وخت خپلودینا نی کارونو ته غلاکړ اولری به نه وی چه سړی ووایی چه دلمانځه څخه دغه معنوی غلا منتج کیږي، دی خبری ته چه انسان دمادی څیزونو غلا ته هم لاس واچوی.څنگه چه غلا کول یو بد کار دی اوالله تعالی فرمایی:چه لمونځ سړی له بدیٔ څخه منع کوی، نوداصفت په لمانځه کی هله پیدا کیږی چه لمونځ په ښه ترتیب سره وشی او که دلمانځه څخه هم غلا وشی نو هغه لمونځ به سړی څنگه دغلا څخه منع کړی.

څرنگه چه دعبادت دقبلیدو لپاره دوه شرطونه دی:

۱- دنیت اخلاص .

۲- بل داچه لمونځ موافق للسنة وی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه: «وصلو کما رائیتمونی أصلی»

یعني لمونځ وکړی هغسی لمونځ لکه څنگه چه ماوینیٔ چه زه څنگه لمو نځ کوم.دد ی لاربنودنی څخه په ډاگه معلومیږی چه لمونځ باید په هغه طریقه وشی په کومه طریقه چه نبی کریم صلي الله علیه وسلم کړی دی.

په مننه

شکرالله

نبوی ارشاد

وعن معاذ بن جبل رضي الله عنه، قال:كنت ردف النبي صلي الله عليه وسلم علي حمارفقال «يا معاذ هل تدري ما حق الله علي عباده وما حق العباد علي الله؟»

قلت:الله ورسوله اعلم.قال:«فانّ حق الله علي العبادان يعبدوه ولايشركوابه شيئاً،وحق العباد علي الله ان لايعذب من لا يشرك به شيئاً»،فقلت:يارسول الله افلا أبشر الناس؟ قال لاتبشرهم فيتكلوا»(متفق عليه).

ترجمه: معاذبن جبل رضي الله عنه گفت:پشت سر پيامبر صلي الله عليه وسلم بر الاغي سوار بودم، ايشان فرمودند:اي معاذ!آيا ميداني حق الله بر بندگان وحق بندگان بر الله چيست؟گفتم:الله و رسولش دانا تراند.فرمود:همانا حق الله بر بندگان اينست كه فقط او را بپرستند وبه او تعالي چيزي راشريك نياورند وحق بندگان بر الله اينست كه كسي را كه به او چيزي شريك نياورده است، عذاب نكند. گفتم يا رسول الله (صلي الله عليه وسلم)! آيا مردم را بدان مژده ندهم؟ فرمود، آنان را مژده مده كه باز بدان اعتماد مي كنند.

مجاهدینو وروڼو!

دکونړ په آزاده سیمه کی د اسلامی شریعت په نافذولو سره تاسو ډیره ستره کامیابی ترلاسه کړی ده او ستاسو دغه بریالیتوب به انشاالله په افغانستان کی داسلامی حکومت د تأسیس پیلامه ثابته شی، تاسو نړۍ ته ثابته کړه چه د افغانستان مسلمان ملت په خپل هیواد کی د یو بشپړ اسلامی نظام د ټینګښت نه غیر په بل هیڅ ډول نظام راضی کیدلی نه شی او وروسته له دی که هرڅوک په افغانستان کی د اقتدار په کرسئ کښینی، تر هغه وخته به په خلکو حکومت ونه شی کولی، ترڅو په هیواد کی دمکمل اسلامی نظام د انفاذ ضمانت ورکړی.